341

واعتصموا
بحبل الله جميعا
ولاتفرقوا

داسلامیه مسلسله دراساته

# څو اسلامي درسونه

سید قطب

... و اسلامیه حزب

4263

١

ذخیرہ صاحبزادہ میاں جمیل احمد شرقپوری نقشبندی مجددی

جو 2001ء میں میاں صاحب نے

PUNJAB UNIVERSITY LIBRARY LAHORE

CLASS NO ..........

BOOK NO ..........

S-369 Punjab University Press 10,000 29-1-2003

Marfat.com

د اسلامیه مسلسله دراساته

ذخیره

# څو اسلامي درسونه

لیکنه : شهید سید قطب
ژباړه : "ګهیځ" د اسلامیه جریده

Marfat.com

(د طبع حقوق محفوظه)

داوّل طبعه

المحرم: ١٣٩٢هـ ـ ١٩٧٢م

Marfat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

Marfat.com

87559

# څو اسلامي درسونه

## د کتاب "دراسات اسلامیّه" ترجمه

Marfat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

« إنّ الله اشترى من المؤمنين أنفسهم وأموالهم ، بأنّ لهم الجنة ، يقاتلون في سبيل الله فيقتلون ويقتلون » الآية ...

صدق الله العظيم

Marfat.com

"سید قطب (رح) کله چې په جیب کښې"
"د اعدام په لور روهل کیده، مسکی"
"ښکاریده. هو! ده خپل ژوند د خدای"
"ته ورکړی وو، او د غرمرګ او شهادت"
"یې په ورین تندی استقبال کړ"

Marfat.com

# مقدمه

دتولو ستاینو او ثنا گانو یوازې هغه خدای لایق دی چه پرته له ده، بل هیڅوك نشي کولی چه له ده سره د ده مناسبه ستاینه پرځای کړي. او اصلاً د بل هیچا ستاینې ته احتیاج نه لري.

هغه ذات چه د ده قدرت او حکمت د غه بدیع نظام قائم کړی دی، او کله چه یو څه وغواړي ورته وائي: «شه!» نو «کیږي».

او د هغه د قدرت او حکمت نهایه او غایه د بشر د علم او تخنیك، بلکه د هغه د تخمین او اټکل څخه لوړ دی.

شکر له دغه پاك ذات څخه چه موږ ئې له عدم څخه وجود ته راایستلي یو، او بیا هم بې حسابه شکر د هغه له رحمت نه چه موږ ته ئې اسلام د دین په حیث انتخاب کړی دی او زموږ سینې ئې د هغه د منلو لپاره غوړولې دي. او موږ ته ئې د اسلام د رڼا



Marfat.com

په وسیله په ژوندانه کښې لارښوونه کړیده .

* * *

او بې شمیره صلوة او سلام په محمد صلی الله علیه وسلم باندې ، هغه لوړ انسان چه دخدای (ج) له جنابه داسلام د تبلیغ لپاره خوښ کړې شویدی .

او ده مبارک (ص) دغه خدایي د روند امانت ، دخپلو ځانی ، مالی ، بیانی ، اخلاقی او فکري سترو او نه ستومانه کیدونکو جهادونو په وسیله خلکو ته ورساوه ، او تر تولو لوړي ئې دغه لوی خدایي پیغام په مکمل ډول په شخصي ژوندانه کښې تطبیق کړ .

او اسلام دده په « اهل بیت » او اصحابو (رض) هغو کسانو چه دخدای په لوی پیغام يي ایمان راووړ او په جهان کښې ددغه دخیر ولو لپاره يي خپل سرونه او مالونه وښیندل . او ددې د جهادونو او سرښیندنو له برکته او س مونږ په میلیونو مسلمانان د ۱۴ پیړیو نه وروسته دنړۍ په هر کنج کښې داسلام په رڼا کښې ژوند کوو . او په عمومي توګه ټول بشریت په اجتماعي او اخلاقي موارد و کښې د دغه انساني قانون ځخه مستفید شویدی .

* * *



Marfat.com

دادیو د ږدیدلی ږږه آواز، او د یو خوږیدلی دماغ اندیښنه

ده، چه د متفرقو مقالو په څیر د «الدراسات الاسلامیة» په نامه

دیونومیالی او ننګیالی مسلمان په قلم لیکل شوی او له عربی نه په پښتو

ترجمه شویدی.

سید قطب د مصر په فضا کښی، یا بهتره ده ووایم:

د اسلام په جهان کښی د سباون دستوری په شان راڅرګند شو،

پچپلو وړانګو او شعلو سره یې د مسلمانانو د ژوند ډیری تیاری

روښانه کړی، او په ډیره روښانه لاره یې د نوی ژوند په لور د

دوی د پاره د ټګ لوری په نښه کړی.

دی وایي: دغه ناوړه اوضاع چه دا اوس په ځینو مسلمانانو

باندی راوستل شویده، په هیڅ صورت سره د بقا او دوام وړ نده.

هو! دا اوضاع د بقا او دوام وړ ځکه نده؛ چه د بقا او دوام

عنصر پکښی نشته.

دا ناوړه اوضاع د بشر فطری تمدن سره په هره معنی چه واخیستل

شی هیڅکله موافقت نلری، او د زمانی د غوښتنو سره سمون نه خوری

بر سیره پر دی دغه ناوړه اوضاع د سالم اقتصاد د لومړنیو اساساتو

سره هم بشپړ تضاد او مخالفت لری. همدا وجه ده چه دغه وضع



Marfat.com

د مسلمانانو د اقتصادي او اجتماعي انکشاف او پرمختګ په لاره کښې ډیر ستر خنډ او مانع ګرځیدلی دی.

او هره هغه اوضاع او اجتماعي سیستم چه د انساني ټولنې د انکشاف او پرمختګ لاره بندوي، او د تولید اتو معیارته زیان رسوي، نه یوازې د بقا او دوام وړنه دی بلکه په عملي ډول کښې باقي پاتې کیدلی نشي.

همدارنګه د اموجوده ناوړه حالت برسیره په هغو مادي، اقتصادي او مدني زیانونو. چه بشري او اسلامي ټولنې ته یې رسوي انساني کرامت، بشري سپیځلي اخلاق، سالم ضمیر او وجدان هم له منځه وړي. او اجتماعي عدالت ته په ټوله معنی سره سخت او نه جبیره کیدونکي زیان رسوي. او هغه متقابل اعتماد و ثرنی چه د ټولنې د افرادو په منځ کښې باید د دولت او ملت تر منځ باید موجودوي.

هغه څه چه د لته مو وویل داسې حقایق دي چه: او سني ډیر مسلمانان پرې پوهیدلي دي، او په اسلامي ټولنو کښې یې د دغو ناپاکو او خوساشویو اوضاعو د بدلون ضرورت پوره پوره څرګند کړي دي.

مګر څنګه بدلون؟ څنګه انقلاب..؟ د کومو مبادیو په اساس..؟

د

Marfat.com

او د کومو وسایلو په ذریعه ...؟

هلته ی پوښتنو ته ځواب ورکول دلوی سید قطب (رح) تګ لاری له بل چانه بیلوی، او په جلا لار د اسلامی انقلاب لپاره مرحوم سید خپل پروګرام وړاندی کوی. چه نه په شرقی بلاک باندی اتکاء لری او نه په غربی بلاک باندی.

ځکه چه تاریخ وښوده چه دا یو هم په مظلومو مسلمانانو باندی رحم نلری.

د مسلمانانو په نسبت ددی دواړو بلاکونو د ظلم او بیرحمی، بی باکی او سفاکی د پاره ډیر څرګند او ژوندی مثالونه موجود دی.

د مسلمانانو په مقابل کښی ددې دواړو بلاکونو ترمنځ هیڅ فرق او توپیر موجود ندی، او که موجود وی نو هغه به محض د شکل او قیافی تغییر وی، نه د مبدأ او عقیدی تغییر. ځکه چه ددی دواړو قبله یوازی او یوازی ماده ده.

د دوی جنګ - جنګ په متاع او په بازار دی او بس، نه په بل څه. له هغی کبله د دوی څخه دیوه په غیږ کښی هم، د مسلمانانو د پاره د ژوند - مګر آزاد، ابرومند او شریفانه ژوند، تضمین څه چه امکان یې هم موجود ندی.



Marfat.com

د هغو تاریخي حقایقو په رڼا کښې سید خپله مبارزه شروع کړې، او د خپلې مبارزې اساسي خطوط یې د قرآني ستورو په لاړښوونه دیوه مشخص پروګرام لاندې تثبیت کړیدي.

دا پروګرام اسلام دی، مګر اسلام په واقعي معنی نه د شیخانو، درویشانو "ملنګانو" او زوړ آوړانو اسلام. ده د غو محمد عالي اهدافو او مقدسو مقاصدو ته د سید و د پاره خپله زړه او قلم خپل فکر او دماغ، حتی خپل ژوند وقف کړي وو. باک نلري که په سولې وځېژول شو او په دار وځړول شو.

سید د خپلې مبارزې په لاره کښې شهید شو مګر مړ نه دی ځکه د خدای په لاره کښې مرګ مرګ ندی بلکه ابدي حیات او پر افتخاره دائمي ژوند دی. څوک څوک پرې پوه شي. د ده فکر خپل تول قوت ژوندی دی او هیڅ طاقت نشي کولی چه وئي وژني. (وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ، إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ.)[1]

دادی! اوس دد ی لوی عالم زړور مجاهد او مخلص شهید خبرې، د زړه په غوږ و اورئ، په غور ولوستر ګوئ ولولئ! او د شهید سید قطب د مبارزې سره ځان آشنا کړئ. چه دی څه غواړي؟ او څه وائي ....!!!؟

(۱) الحج ۴۰



Marfat.com

پخوا الدی چه اصل مضمون ته ورشو، د غه لو مجاهد بدلون

څه د ر و پېژنو.

تر ۵۹ کاله پخوا د مصر په یوه کلي کښي سید دنیا ته راغی،

ورو کوالی او د لومړني ښوونځي دوره ئې هلته تېره کړه، او بیا

چه ښار ته راغی لیا ډیر وړوکی وو چه قرآن ئې حفظ کړ، سربېره

پر مادي علوموئې اسلامي تعالیمو ته هم توجه وکړه، او کله چه

ځواني ته ورسید د علمي او ثقافي خدماتو سره سره اجتماعي

خدماتو ته هم متوجه شو، او داسي یو جمعیت کښي شامل شو

چه د اسلامي نظریاتو تحقق میندل، په هغه کښي په ښه توګه

تضمین شوی و.

څو کاله ئي په لیکلو، وعظ او تبلیغ تیر کړل، او عربي او

اسلامي هیوادونو ئي د خارجي مفکورو د تعلیماتو اضرارو ته

متوجه کړل.

ده ډیر کتابونه ولیکل او د علمي او اسلامي کتابو په لیکلو

کښي ئي نبوغ درلود.

د «في ظلال القرآن» په نامه ئي «۵۵۰۰» مخونو کښي

تفسیر ولیکه، چه پخوا له مرګه ئي په هغه نوي کتنه وکړه.

ز

Marfat.com

دغه لوی عالم اسلامي نړۍ ته ډیرو کتابونو بښه پېژندنه وکړي، او په اجتماعي، اقتصادي، ثقافي او اخلاقي ساحو کښې یې د قرآن مجید او محمدي سنتو په رڼا کښې هغو ته یوه عملي مسوده نړۍ ښودلې ده.

دده په لس هاو کتابونه زموږ د ایراني وروڼو له خوا په فارسي ترجمه شوي. خدای دې لیا هم توفیق ورکړي چه د حقایقو غوښتونکو ځوانانو لپاره دلاري څراغونه دي.

دی په ۱۹۵۴ کال کښې، ورو سته له دې چه نامړ د تحجب قدرت په لاس ور وور، عمري بندي شو، او اته کاله ئې په بند کښې تېر کړل. وروسته د ډاکترانو په توصیې د ټتر د مرض له لیکه خوشي شو. خو ده د خپلې جسمي مریضۍ پر ځای د خلکو روحي نارو غیو علاج ته توجه وکړه. او بیا هم د ښوونې او تبلیغ ځنځ وانه وښت.

دی دوه کاله خوشي شوی وو، او بیا زنداني شو، هغه تورونه چه پرده لگول شوي، هسې خوسا او دروغجن تورونه دي، چه زیاتي یې د استعمار رنگ او خوند اخیستنې او څرک نشي غورولای.

دی د «اجتماعي دلو» دلارښوونکي په نامه د (المعالم في الطريق)



Marfat.com

کتاب د لیکلو په بهانه محاکمه شو. په ده د «توطئې » د «امنیت په خلاف اقدام» د « ارعاب او دار اچولو » تور هم ولګول شول چه دی له دغو تورونو څخه مبرا ؤ .

هو! ده غوښتل چه د خلکو اذهان او زړونه په تبلیغ روښانه کړي ، تر څو پر ته د خدای له حکومت څخه بل حکومت ونه مني .

د دوشنبې په شپه د لومړي خور ۱۳۸۶ هجري قمري کال کښې چه ۵۵ کلن ؤ د ده او نورو ملګرو سره چه محمد هواش ، او عبدالفتاح اسماعیل نومیدل په دار وځړول شول .

کله چه ده ته د اعدام حکم ولوستل شو ، ده په ډیر آرامی داسې وویل :

« زه پخوا الدې پوهیدم چه حاکمه طبقه نه غواړي چه زه ژوندی پاتي شم . زه بیا هم په او چت غږ دا خبره تکراروم چه : نه پښیمانه یم او نه د دغه حکم څخه اندیښمن یم . بلکه ډیر خوشحالیږم چه د خپل مقدس هدف په لیاره کښې وژل کیږم . البته راتلونکي تاریخ به زما او حکومت تر منځ حکمیت وکړي چه په موږ کښې چا د حق لاره نیولې وه .

د ګهیځ « اسلامیة جریده ادارہ
کابل . افغانستان



Marfat.com

Marfat.com

# موږ څه وايو او څه غواړو؟

## نوی ژوند ـ ښه نړۍ

## د اسلامي ژوندانه د نوي کولو لزوم او اړتيا

کله چې موږ د «اسلامي ژوندون» د نوي کولو خبره مخ ته راولو او وايو چې اسلامي ټولنه دې بيا له سره جوړه شي نو يوه ډله خلک به دې خبرې باندې خواشيني کېږي او داسې ګمان کوي چې د دې موضوع د عملي کېدلو په صورت کښې به په يو ښهر خلکو باندې ظلم او تيرې وشي او يا به په اجتماعي روابطو کښې خلل او ګډوډي پيښه شي، مګر حال دا دی چې دا خبره په هېڅ ډول سره داسې نده، او شک نشته چې په دې خبره باندې د خپکان ښکاره کول د اسلامي ژوندانه او ټولنې د ځرګندوالي په حقيقت باندې د نه پوهېدلو څخه پيدا شوي دي.

کله چې موږ نوی ژوند او ښه نړۍ غواړو او وايو چې بنا ئې اسلامي



Marfat.com

ژوند له سره شروع شي، په حقیقت کښې د اجتماعي او کړه عدالت دغه بشپړه صورت او کامل مصداق موجودیت غواړو چه هیڅ یو اجتماعي بنسټونه او طرز العمل کولای نشي چه هغه عملي کړي او په دې ذریعه د ټولنې ټول غړي او طبقات دیو د پرښه او نیک مرغه ژوند ترسیوري لاندې راولو. نني نړۍ په فکري او اجتماعي بحرانو کښې اخته دی او د خپلو قوانینو او سیستمونو په اوضاع او شرائطو کښې د ناقرار او مشکلاتو سره مخامخ شوي او په هیڅ ډول اجتماعي سیستم او حکومتي نظام کښې ئې حقیقي هوسائي نه ده موندلې او له همدې کبله یوه ډله خلک وائي: چه او سنی حالات د نړۍ په ډېرو قومونو کښې د اجتماعي او سیاسي بنسټونو ځینو له منځه وړلو لپاره ئې زمینه مساعده کړې او د ابنسټونو ټول د ماتې او غورځېدو په حالت کښې دي حتی په هغو هیوادونو کښې چه د هغوی نظام ټینګ ښکاره یږي او د اګمان کیږي چه د دوی ظاهري آمادګۍ او وسائل به له دوی ځنې دفاع وکړي شي د ورکېدو احتمال شته.

د ټېرو نو او حکومتونو حقیقي هوسائي عسکر، ماشینداري توپونه او ټانکونه او ذروي بمونه نشي پیدا کولای بلکه هغه ټولنه او ټابر به پرخپل ځای پاتې وي چه د جامعې طبیعي ارتیاوې لېرې او د



Marfat.com

خلکو په زړونو او ماغزو کښې د انسانیت حس پیدا کړې وي او هېڅ
شک نشته کله چې دا دوه اساسي پایې له منځه لاړې شي، د اور او اوسپنې
قواوې هېڅ کله نشي کولای چې انساني نېک مرغه ژوندون په ځای
کړي او منځ ته راولي.

دا هغه حقیقت دی چې د تاریخ په موده کښې د پېړیو په تېرېدلو
د هغه اصلتوب تصدیق کړېدی.

---

نو مونږ د اسلامي ژوندون د نوي کولو او د اسلامي ټولنې
د منځ ته راتللو غوښتونکي یو او په حقیقت کښې د اغوارو چې د اجتماعي
نړوونکو بحرانونو او ټکانوونکو وسائلو شو، او خپل ژوندون په داسې
ټینګو بنسټونو او پایو باندې ودروو چې د هر هغه سیستم او طریقې
له پایو څخه چې هېڅ یوه عقیده او ایمان ئې طرفدار نه دی ټینګ وي.
مونږ د دوي بشپړې انساني ټولنې، نوي نړۍ او د پېړۍ ښه
ژوند غوښتونکي یو.

ځکه مونږ او د صحیح فکر او عقل د خاوندانو په نظر کښې اسلامي ټولنه
یوازې هغه سیستم دی چې د جهاني اندېښنو او هیلو په پایې د کلمې
په واقعي مفهوم باندې ولاړ دی، او دا ځکه چې اسلامي رژیم یوازې



Marfat.com

هغه رژیم دی چه د نړۍ ټولو وګړو ته پرته د ژبې، قومیت، رنګ او فکر له توپیره ځنو موقع ورکوي چه د اسلام په سیوري کښې هوسا ژوندون ولري، او البته چه د دې ښوندانه په اړخ کښې به د دوي ترمنځ بشپړ عدالت عملي او جاري شي.

د سرمایه داری ممالک او بله ایتوب منابع او هغه بلاکونه چه د مارکسیسم په اصولو پورې تړلي دي وائي چه مونږ په نړۍ کښې دی جهاني تینګ سیستم غوښتونکي یو مګر دادي وپوښتل شي: د نړۍ کوم سیستم کولای شي چه بې له آزادۍ ځنو وجود او دوام مینده کړي؟

د کمونیسم او غربي امپریالیسم په مرکزونو کښې هغه کسان چه حاکمې طبقې د عقیدو په خلاف فکرونه او عقیدې لري، عملاً د ژوندانه حق نلري، مګر مونږ د داسي یو طرز العمل غوښتونکي یو چه صحیح دین د ټولو عقاید و خاوندان کولای شي په بشپړه آزادۍ د هغه تر سیوري لاندې عمر تیر کړي او په داسي سیستم او طرز العمل کښې بشکه چه حکومت او مسلمانان به د مذهبي دودونو او مراسمو تر سره کولو د آزادۍ او د عقیدې د آزادۍ د ساتلو ضامن وي او پرته د مسلمانانو ځنو غیر اسلامي کسان به هم وکولای شي چه د خپلې



Marfat.com

شخصي شروندانه په چارو کښې د خپل دين د آسماني احکامو متابعت وکړي او له اجتماعي کړو څخه بې له هيڅ کوم ډول محرومیته ځني کټمور شي او په دې ډول سیستم کښې د دغو چارو د عملي کېدلو ضامن په عقيده، ايمان، وجدان او پاک زړه وي، نه وچ او بې روحه قانون چه يوازې ځپله په اجرا کېدلو قدرت نلري .

---

مونږ د داسې يو رژيم غوښتونکي يو چه د هغه په سیوري کښې د بشر ټول افراد - که تور دي، سپين، ژېړ يا سور - پرته له دې چه د هغوی نژاد، ژبې او رنګ ته پېژندنه وکتل شي، په آزادي او انساني برابري ژوند وکړي او داځکه چه د انسانیت علاقه هغوی ټول يوله بله سره يو ځای کوي بې له دې څخه چه د قوميت يو ډېر کوچنی باعث او تعصب په هغه کښې دخالت ولري .

مونږ د هغه سیستم او طرز العمل غوښتونکي يو چه په هغه کښې «حاکمیت» کوم يو فرد ته له بشري افرادو څخه او يا کومې طبقې پورې خاص ندی بلکه بشپړ او کامل حاکمیت خاص خدای لره دی او هم دا سبب دی چه په داسې ټولنه او نظام کښې رښتیانی او حقیقي مساوات تحقق مومي او عملي کېږي .



Marfat.com

په دغه نظام کښې به حاکم او دلوی منصب خاوند د ټولنې د افرادو له حقوقو څخه کوم زیات حق ونلري او د دغه نظام په سیوري کښې به هیڅ یو شخصیت او مقام له قانون څخه سیېڅلی او جګ نه وي او د دغه سیستم محکمې به د وزیرانو او د ټولنې د عامو افرادو لپاره یو شان وي او د عدالت او محکمې په مقابل کښې به یو لوی منصبدار د ټولنې دیو ډېر کوچنی غړي سره بې له هیڅ ډول امتیاز او زیاتوالي څخه یو شان ولاړ وي.

مونږ د داسې یو نظام غوښتونکي یو چه ټولو وګړو او د هیواد ټولو او سېدونکو ته په ملي ثروت کښې عادلانه برخه ورکوي؛ او د دې لپاره چه په دغې ټولنې کښې چه مونږ ئې په نظر کښې لرو د مالکیت حق اجتماع ته راجع کېږي چه د خدای د خلافت په نامه ئې لري، او فردي مالکیت په یو خاص چوکاټ کښې محدودېږي ... او که چېرته ټولنه او اجتماع یوې زیاتې ګټې او ډېر مال ته اړتیا ولري نو په دې صورت کښې شک نشته چه ټولنه او اجتماع به لومړی حق ولري.

مونږ غواړو داسې ټولنه دې منځ ته راشي چه د هغې بنسټ په اجتماعي تکافل او مرستې یو له بل سره په خپل عام مفهوم او



Marfat.com

کامل مصداق باندی ودرېږي. په دې ډول چه په داسې ټولنه کښې هېڅ داسې یو وږی او تږی وجود ونلري چه د هغه په مقابل کښې یوه ډله خلک له ډېر ثروت او بلها ایتوب څخه کټور وي. او البته د اجتماعي تکافل او تعاون لمن ډېره لویه ده ...

څو مونږ په ټولنه کښې ګورو چه په نظر کښې لرو، ټولنه د خپلو غړو د هر فرد مسئولیت په غاړه لري، باید هغه د کار د پاره چمتو کړي او هغه ته کار پیدا کړي او هم د کار په وخت کښې ئې څارنه او ساتنه وکړي ... او ورو وسته تر دې څو مونږ ټولنه د هر فرد د احتمالي وړ نه کا تیا، ناروغتیا او ناتوانۍ په صورت کښې د تکافل په غاړه اخلي، په دغه انساني او اجتماعي تکافل کښې به هېڅ راز توپیر د مختلفو ډلو او ټبرونو او عقیدو د خاوندانو تر منځ وجود ونلري.

---

مونږ غواړو چه داسې یو انساني نظام او رژیم ټینګ شي چه په بین المللي علایق او تړون د دوستۍ او ګډ ژوند په اساس باندې ټینګ کړي او له هیڅ اړخه تر څو پورې چه نسبته وړه نکوي او د هغه په ضد باندې تو طئې او پلمې نه جوړوي او



Marfat.com

تابعین ئی نه خوړوي او په ځمکه کښې فساد او وړانه نه کوي او په ټولنو او خلکو باندې نېږه کول روا نه ګڼي، جنګ و نکړي، او په دښمنۍ باندې ئی لاس پورې نکړي، ځکه چې دا مسلک او نظام بې له تېري کوونکو او وړانی کوونکو څخه د هیچا سره نه لښلي.

مونږ د دغه راز نظام او اجتماعي سیستم د ټینګېدو غوښتنه کوو، او اوس باید دادې وپوښتل شي چې دولتونه او ټبرونه د داسې یو انساني نظام د جوړېدو څخه د نړۍ په ټولګوټ کښې ولی بېرېږي؛ په دې حال کښې چې دغه رژیم به په وجداني شعورو احساساتو او په اخلاقي کلکو پایو باندې ټینګ ولاړوي چې د اصولوئی اجرا او عملي کول په باطن کښې یو باعث او محرك لري او یوازې په مادي نفوذ باندې اکتفا نکوي.

څومونږ په نظر کښې د دغه نظام جوړېدل د نړۍ په ټولګوټ کښې د ټول بشریت له غوښتنو او وړ څېدلو څخه د ساتنې ضامن دی. ځکه چې دا نظام به د جهاني ظلمت او تیارو په منځ کښې دیوې ځلاندې او روښانې منارې په شان وي چې د هغې په ذریعه لیارمینده کېدای شي او د صلحې او هوسائی ساحل ته رسېدای شي.

نن ورځ بشریت دیوې عجیبې دوې لیارې په سر کښې ولاړ



Marfat.com

پاتې دي فکري بحرانونو اوکړ وړي، د رژيمونو او نظامونو تزلزل
او طرز العملونو هغه دکندې ښخنوي ته رسولي دي، او بنائي
و يو ښتل شي چې يوه ډله خلک ولې بې رېږي چې يو اخلاقي او
معنوي رژيم په خلکو باندې حکومت وکړي، او عدالت، هوسائي
او آزادي ټينګه کړي او بشريت له سرګرداني څخه وژغوري.

په ننني ټولنو او بشري اجتماعاتو کښې، بنائي چې يو ډول صحيح
فکر او عقيده موجوده وي. مګر د غربي ټولنو ټولوالي له عقيدې
او نظرياتو څخه، هغوي يو په بل پسې د ماديت کندې او د ماديت
خوا ته ورباسي. په داسې ډول چې د غې ټولنې نور نشي کولای چې دا
بدبختۍ او مصيبت له ځانه څخه لرې کړي او د ماديت په لمن
کښې ونه لوېږي، ځکه هغوي دا غواړي چې د صحيح فکر او
د اند لېښنو وړاندې کولو په ځای، د بند بخاني او د نېزې د
څوکو په زور نور مسلکونه او عقيدې له منځه يوسي.

مګر مونږ! .... مونږ په پوره ډول سره داسې امکانات
او قوتونه لرو چې "غرب" لې بيخي نلري. مونږ کولای شو چې خپل
اجتماعي اوکلي نظام په يوې صحيحي او بشپړې پايې باندې ودروو
او ډېر قوي، جامع او بشپړ نظريات او افکار د نورو عقيدو او



Marfat.com

سنو ونځیو په ځای تینګ کړو . او دا په حقیقت کښي ډېره کم عقلي ده چه مونږ د غربي ښو لنو په تقلید چه لږ تر لږه هر ډول مادي وسائل په لاس کښي لري او ځمونږ هیوادونه ئې نلري موقع له لاسه ورکړو .

---

زه غواړم په دغه ځای کښي یوه پوښتنه وکړم او هغه داده چه : ځینې دولتونه او طوائف ولې له دغه عادلانه رژیم څخه یېرېږي کوم چه د ایمان او عقیدې په پایې باندې ولاړ او د ټولو لپاره د اجتماعي عدالت غوښتونکی دی او د خپل عادلانه نظام په سیوري کښي د ټولو ساتنه کوي ، او نه ذېږي د سوکې په زور بلکه په خپل خاص اجتماعي سیستم او یو ډول جامع الاطرافي فکر سره مادیت له منځه وړي .

هغوی وائي که چېرته د غربي امپریالیسم او د استعمار قواوې د عربي او اسلامي ختیځ څخه ووځي ، یوه خلا پیدا کېږي او د اخلاقي کمونیسم ډکه کوي ، مګر که رښتیا وائي او په دې وینا کښي استعماري بدنیتي نلري ولې نه یېرېږي دې چه مونږ خپله دیوعادلانه او روغ نظام په چوکاټ کښي چه د عقیدې او ایمان په طرز فکر باندې تینګ او جوړ شوی وی پخپله هیوادونو کښي دا پیدا شوې خلا ډکه کړو ، تر څو چه د هغه د آزادۍ او عدالت په سیوري کښي بشریت ښکلي او ښایسته ژوند وکړي .



Marfat.com

هغوی د دغه نظام د نه جوړېدلو او د دغه اجتماعي سیستم د نه پیداکېدلو په لیاره کښې ولې مستقیماً دخالت کوي . او د دغه رژیم د منځ نه راتللو مانع ګرځي .

دا پروګرام ، دا ترتیب او دا اصول به وکولای شي چه څوموږ په خاوره کښې لږ تر لږه د سلو سرتېرو لښکرو او د لسو نو جنګي هډو او د لسو نو عسکري مرکزونو په ځای د هر دول ورانی کوونکو اندېښنو د نفوذ مخه ونیسي ، په دې حال کښې چه د لویدیځ نړیوال سرباران ، اډ دونکاوي او مرکزونه تر اوسه پورې نشي کولای چه په لویدیځو هیوادونو د کمونیزم نفوذ بند کړي او خپل رژیمونه د تکان او غورځېدو څخه وژغوري .

هو ! هغوی د دغه اجتماعي طرز العمل او رژیم سره جوړېدلي او په ټولو قواوو سره د هغه په ضد جنګېږي ، ځکه چه دا نظام د استعمار قوه او تور امپریالیسم هم ، د سور کمونیسم په شان شړي او هیڅ دول استعمار ته که پخواني دی او که (نیوکلنالیسم) او سني ، په هر نوم او عنوان ، د هر دول نقشې او پردې لاندې چه وي ، اجازه او لیاره نه ورکوي چه څو موږ په اسلامي لوی هیواد کښې په فعالیت بوخت شي .



Marfat.com

یوازې همدا سبب دی چه هغوی د دغه عادلانه او انسانی او جامع الاطراف نظام، چه د ټولو عقیدو او فکرونو خاوندان کولای شی د هغه په سیوری کښی په بشپړه هوسائی ژوند وکړی، مبارزه او نښته کوی.

مګر څومره په ځای دی که چیرته مونږ واقعاً کومه پوهه او ادراک ولرو!

اوس د احقیقت مینده کوو، ځکه چه نور داوخت رسیدلی دی چه مونږ د بیزو کانو په شان مقید وو نه او سوا وبینی ونکړو!

## اسلام مبارزه کوی:

هغه کسان چه داګمان کوی چه د نړۍ نور اجتماعی بنسټونه کولای شی چه د اسلام په شان د تېر یو او تېری کوونکو او سرکښو او ظالمو سره مبارزه وکړی او د ټولتو د نا امیندو، رنځ ایستونکو او بی وزلو مظلومانو څخه د دفاع وکړی، یا پوره شک او اشتباه لری یا کاملاً دغرض خاوندان دی او یا د اسلام او د هغه له حقیقت څخه په هیڅ شی باندی نه دی پوهیدلی.

داله یوې خوا!

او هغه کسان چه ګمان کوی مونږ مسلمانان یو مګر د بی غوریو



Marfat.com

اومظالمو سره نښتنه نکوی او د نړۍ د څو ربډلو او ځنډلو له حقو توڅخه دفاع نکوی یا پوره په شک کښی دی یا بېشکه منافقان دی او یا د اسلام او د هغه د حقیقت څخه بېخي پوه ندی .

اوداد بلي خوا !

---

په اصل کښی اسلام پخپل اساس او پخپل ذات کښی د آزادۍ بښنلو حرکت دی ، چه لومړی د افرادو نړۍ او بیا ټولنی اصلاح او آزادی لکه څرنګه چه ښائی کړچا د اسلام په نهاسره لیا رومونده ، هغه بیا له هیڅ زور څخه نه بېرېږی او بی د پاک خدای له قدرت څخه د هیڅ زور او ربه مخکښی د تعظیم سر نه ښکته کوی او لکه یو مستقل فرد په شان د هیڅ ډول ظلم او تیری په مقابل کښی غلی او چوپ نه کښېني که څه هم د غه ظلم او تیری په ده باندی نه وی او په یولږ کوټ کښی په یوانسان باندی شوی وی .

که تاسی کوری چه ظلم او ناروا وی عملی کېږی او دریځ لیدونکو چیغه پورته کېږی او مسلمانان د تیری کولو د مدافعي او د ظلم د تغر د ټولولو لپاره چمتو والی نکوی ، تاسی باید بی له هیڅ راز شک او شبهی څخه د « مسلمانو ګرو » په وجود کښی شک ولرئ . ځکه دا ښی



Marfat.com

کېدای چه خلک اسلام، دعقیدې اوپوه ول فکرپه صبغه ومنی، مګر ظلم او بندیخانه او فراړ دقانون او نظام په حیث عملاً قبول کړی.

ځکه چه خبره له دوو حالو څخه خارجه نده : یا اسلام شته او یا نشته !

که اسلام شته نو پرله پسې مجاهده او اوږده مبارزه او بیا دخدای په لیاره کېږی، دحق او عدالت او مساوات په لیاره کېږی شهادت او وینی تویول دی، اوکه اسلام نشته نو نشته ئې داده چه تول په مفتو اوړادونو او ذکرونو باندی بوخت وی، او په سپینو تسبیحو اوجای نماز و پورې نښتی وی، سبا او بیګاه به انتظار وباسی چه له آسمان نه خیر او برکت، آزادی او عدالت ووریږی! مګر هیڅکله به آسمان هم په دوی باندی څه شی ونه لیږی او پاک خدای به هیڅ یوی طایفې سره چه خپل ځان سره مرسته نکوی او په خپل ځان باندی د اډنلري او دپاک خدای قانون په جهاد او مبارزه کېږی نه عملی کوی مرسته ونکړی. " انّ الله لا یغیّر ما بقوم حتّی یغیّروا ما بانفسهم"[1] پاک خدای د هیڅ ټبر نعمت او حالت نه بدلوی مګر چه هغوی پخپله هغه نعمت او حالت ته تغیر ورکړی.

(۱) الرعد ۱۱



Marfat.com

اسلام یو انقلابي فکر او د نوی انسان جوړوونکی عقیده ده، په دې معنی چه اسلام د هیڅ یو په زړه کښې ځای نه نیسي مګر دا چه په هغه کښې یو تحول او تغیر پیدا کړي. تغیر په احساس او ادراک کښې تغیر د ژوندانه په ټولو احوالو کښې، د فرد او ټولنو په روابطو او تړون کښې ...

اسلام داسې یو تحول منځ ته راولي چه د نړۍ د ټولو وګړو په منځ کښې د بشپړې برابرۍ او مساوات د ټینګښت لوغوښتونکی دی، په دې ډول چه هیڅ یو په بل باندې پې له پرهیز ګارۍ څخه ترجیح او ځنګ واله نه ورکوي.

د دغه تحول او انقلاب بنسټ او اساس انساني کرامت او شرافت دی چه د هیڅ یو مخلوق او یو پیښې او حادثې له کبله نه سبا ئې چه تر پښو لاندې شي.

دا انقلاب د یو بشپړ او هر جانبه عدالت په اساس باندې ولاړ دی چه اجازه نه ورکوي د تجاوز او ورز دوګړي او یا په چا باندې تېرى او ظلم روا وکړي.

کوم وخت چه انسان د دغې عقیدې او طرز فکر خوند او تود والی احساس کړ، نو په فطري ډول او ټولو قواوو سره د هغه د مقصد سره او سپېڅلو هدفونو په عملي کولو کښې ژیار روباسي او



Marfat.com

هیڅکله دانشي کولای چه غلې او چوپ کښېني، مګر هغه وخت چه داهیله او اندیښنه په خارج کښې عملي بڼه او صورت مینده کړي... او دادې خبرې معنی ده چه موږ وایو: اسلام یو انقلابي فکر او د نوي بشر جوړوونکې عقیده ده.

---

هغوی چه اسلام راوړی داسې کسان دي چه په ځان او زړه سره د خدای په لیاره کښې په رښتیا سره جنګیږي، او هغه کسان دي چه د خدای د نوم او د حقې کلمې د لوړوالي او اعتلا په لیاره کښې په جهاد او ریاړ بوخت دي او د خدای نوم هغه وخت د ځمکې ټول مخ نیسي چه ظلم او تیري، زور آوري او زورښودل له منځه ورک شي، او د هر ډول ظلم کولو نخه ټول شي او ټول انسانان د ژ منځ د غاښونو په شان یو له بل سره ورته او برابروي او هیڅ الوه په بل چا باندې بې د تقوی او پرهیزګارۍ څخه مزیت او برتیا تواله نه وي.

نظر د غه حساب او نظام ته، هغه کسان چه د ځمکې د مخ په هره برخه او ټولنه کښې ظلم او تیري په خپلو سترګو ګوري، او ورسته تر دې خپله ژبه او خپل قلم نه ښوروي، چه د حق او عدالت څخه



Marfat.com

دفاع وکړي، د دوی زړونه د اسلام له رڼا څخه تش او خالي دي او که د دوی په زړونو کښي کوم رڼا پیدا شي بې له ځنډه د حق لپاره کښي نښتي او مبارزې ته ولاړیږي.

که د ناسیونالیستي روح موږ دې ته مجبور وي چه د ظالم او کینه ناک استعمار سره جنګ وکړو، که د سوسیالیسم روح له موږ نه داغواړي چه د تېرې کوونکي بله ایتوب او وړانی کوونکي فئودالیسم او استعمار سره مبارزه وکړو، او که د فردي آزادۍ روح وائي چه د تجاوز، مطلق انانیت، استبداد او زور ښودني په مقابلې لاس پورې کړو. نو د اسلام روح دا ټول مفاسد، وطن نیول، فئودالیزم، زور ښودل د ظلم او تېرۍ تر عنوان لاندې چه د ټولو په منځ کښي مشترکه او کلې معنی ده، موږ ته ښودلی او په دغه وخت کښي امر ورکوی چه بې له جرئت او روغې څخه بې له کوم شک او تردده ځنې، ټول سره یو ځای د هغه په مقابل کښي وجنګیږو، او د ابې شکه د انساني شرافت، عدالت او آزادۍ په لیاره کښي، د بشری مبارزو په ډګر کښي، د اسلام یو لوی مزیت دی.

هر هغه مسلمان چه د اسلام روح او حقیقت ئې موندلی وی، هیڅ کله نشي کولای چه د استعمار ګروسره هم نکاو یو لاس شي یا د هغوی



Marfat.com

سره مرسته او یا له هغوی سره کوم قرار داد او تړون وکړي، او یا کوم وخت له هغوی سره د روغې او پخلا کید و له لیارې څخه وړاندې شي او د هغوی په ضد باندې د ښکاره او پټې مبارزې نه لاس واخلي. ځکه هر څوک چه د استعمار چیانو سره د ښمنی په زړه کښې نلري او اسلامي او ملي قوتونه تر کومه ځایه پورې ئې چه په وسع او توان کښې دی، د هغوی په ضد باندې په کار نه آچوی. له هر څه نه مخکښې، د هیواد او ملیت نه مخکښې د خپلې عقیدې او دین سره خیانت کوی ئې کړیدې.

البته د د غه روښان او باریک حساب سره هغه کسان چه د استعمار او امپریالیسم سره د تل لپاره د دوستی تړون کوی، او استعمار گر ونه ځانونه سپاري، او د جګړې او سولې په وخت کښې له هغوی سره مرسته او ملګرتیا کوی او ملي حاصل په دې حال کښې چه خلک وږی او مضطر دی هغوی ته ور ښښی او په خپلو اقداماتو سره د هغوی په جنایتونو او خیانتونو باندې پردې آچوی د هغه وضع به په پوره ډول سره ښکاره او روښانه وی....

هر هغه مسلمان چه په خپل زړه کښې د اسلام احساس کوی د دې خبرې اجازه نشي ورکولای چه فساد کوونکي فیوډالیسم او تیری کوونکي به اینتوب په هوسائی او ډاډ ینه کښې پاته شي، او دی هغه



Marfat.com

ناروا وي او فسادونه یا دنگړي او دهغوی په مقابل کښې چیغه وهه باسی او تر کوم ځایه پورې چې ئې له لاسه کیږی په زړه ، تر به او لاس باندی دهغوی په ضد ونه جنګیږی .

هره ورځ چې پلي له جهاده تیره شی ، او هره ګړی چې پلي له مبارزې نه تیره شی ، او هر ډب او هره دقیقه چې پلي له نتیجې لرونکی کار څخه تلف شی ، دمسلمان فرد په زړه کښې لویه ګناه ګڼله کیږی چې پلي له پرله پسې او بې امان ډرګولو ځکړي څخه دهغې جبیره ممکنه نه ده .

هر هغه مسلمان چې د اسلام حقیقت مینده کړی ، نشی کولای چې د زور ، او زور آوری او ظلم ناکه تیری وجود ، دځمکې پرمخ باندی ومنی ، او خلک چې زړی نه آزاد زاغلی دی مرعوب نه وباسی . بلسکه رښتیانی مسلمان په خپل ځان او مال سره دخپل پاک خدای دعوت او غوښتنی ته دقبلولو او منلو په لیاره کښې ، زیار وباسی . پاک خدای فرمائی : « وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا »(1)

ولې دخدای په لیاره کښې دبیوزلو او ناتوانو دنجات لپاره له زرو . ښځو او ورو څخه هغوی چې وائی : ای خدایه موږ د ظالمو له ملکت

(1) النساء - ۷۵



Marfat.com

اوخاوري ځکه وباسه او ځمونږ د پاره له خپله حضوره ولي مرستونکي ودروه، جګړه نه کوي.)

---

که تاسي مسلمان اوسئ همدا موبس دی چه تاسي په بشپړه زړه ورتیا او پیاوړي توب سره، په ټوله فداکارۍ او خونبې سره، بې له لټۍ او تنبلی ځکه، د استعمار او امپریالیسم په مقابل کښي، اعم له شرقي او غربي ځني جمتوکړي او دهغه په ضد باندي مبارزې ته موجبور کړي او که تاسي داسې نه یاستئ خپل زړه ته وګورئ، ښائی د ایمان په لړ لوکښي موخپل ځان غولولي وي، او که داسې نه وي، نوځنګه ښئ کولای چه د امپریالیسم او استعمار سره وجنګیږئ.

که تاسي «مسلمان» اوسئ همدا بس دی چه تاسی د اجتماعی خرابیو او تیریو په مقابل کښي د ټولو قواو سره مبارزې ته پاځوئ. داسې مبارزه چه بې امان ور کول پر له پسې، ښکاره، بې له ستړیا او زړه تنګیه ځني وي، او که داسې نه یاستئ، خپل زړه ته وګورئ. ښائی د ایمان په لړ لوکښي مو خپل ځان غولولی وي، او که داسی نه وي نو څرنګه کولای شئ چه د ظلم او تیری سره له مبارزې ځکه بېرته و درېږئ.

او که تاسي «مسلمان» اوسئ همدا بس دی چه په ټول توان او زړه



Marfat.com

سره . داستبداد او فرعوني تجاوز او تېري په مقابل کښې ، جنګ ته ولاړشئ او دهغه ظاهري قدرت دېچ دوزره نه هم ورېږي او بې اهميته وګڼئ او که مبارزې ته ولاړنشئ او د ظاهري قوې څخه مو بېرې نو په ځان لیارو ګړه ، بیا هم خپل زړه نه یونظر واچوئ - سبائي چېن ځان موغولوي وي څنګه دتېري استبداد او خودخواهي سره دمبارزې دپاره نه جنګېږي .

سیاسي او اجتماعي زړه ونه ، دځکي په تولو برخو کښې هم یودخپل ځان دپاره دمبارزې ډګرته حاضرېږي تردحقیقت ببنېلو دپاره وجنګېږي ، مګر اسلام به په ټوله نړۍ کښې او دژوندانه دمبارزې په ټولو ډګرونو کښې دواقعي حق او عدالت دمنځ ته راتللو دپاره ، مبارزه کوي . او په دي لیاره کښې به ټولو آزادي ببنونکو تمدنو سره مرسته وکړي ، او ټول مبارزین به دیو جهاني او اجتماعي لوي عقیدې لاندې سره یو ځاي کړي .

او په هغه وخت کښې چه دعقیدې او ایمان څاوندان . دازلي او ابدي قوې په مرسته ، دجګړې ډګرته حاضرېږي ، دهغوي زړونه دخداي په لیاره کښې دشهادت له مینې څخه ډک وي .

« إِنَّ اللّٰهَ اشْتَرىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ



Marfat.com

والقرآن ومن اوفى بعهده من الله فاستبشروا ببيعكم الذى بايعتم به وذلك هو الفوز العظيم) (۱)

(پاک خدای له مؤمنانو څخه ددوی ځانونه او مالونه واخیستل چه بیشکه دوی لره جنت دی، دخدای په لیاره کښی جنګیږی، وژنی، او وژل شی. وعده ده دخدای چه په توریت، انجیل او قرآن کښی دهغه (ج) په عهده ده او څوک دی ده پروفا کوونکی په خپله وعده او تروړن کښی له خدایه څخه. نو خوشحاله اوسئ په خپله معامله او سودا باندی چه کړی موده چه دالوی بریالیتوب دی.)

(۱) التوبة ۱۱۱

87559



Marfat.com

# د اجتماعي مشکلاتو په باره کښې د اسلام فکر

## «بشپړه مسلماني یا هیڅ»!

هر اجتماعي سیستم د ښوونې په برخه کښې یو مکمله فلسفه لري، څنګه چې هره طریقه او نظام د ځینو مشکلاتو سره مخامخ کېږي چې د هغه له عملي کېدلو څخه پیدا کېږي، او په هغه نظام باندې داسې حوادث او پېښې راځي چې د هغه نظام د صورت مېندلو او اجرا کېدلو په صورت کښې د هغه د طبیعي او کیفي آثارو سره، چې د اجرا او واقعیت مېندلو څخه ئې پیدا کېږي متناسب دي. همدا رنګه د ښوونې اند هر نظام او هره طریقه د حل لیارې لري چې د هغې په وسیله د خپلو قوانینو د کیفیت او اجرا څخه د پیدا شویو مشکلاتو مقابله کوي... او د اخبره د عقل او انصاف څخه د بېره لیرې ده چې دا ووایو چې یو ازقانون څخه د هغو مشکلاتو



Marfat.com

دحل کولو غوښتنه وشي چه، هغه ئې منځ ته ندي راوستلي، بلکه د هغو
د پیدا کولو عوامل په هغه سیستم او طرز العمل کښې پټ دي چه د هغه
رژیم سره په هر شي کښې اختلاف او تضاد لري!

صحیح او عادلانه منطق وائي: هر څوک چه د یو اجتماعي طرز العمل
او نظام څخه دخپل ژوندانه د مشکلاتو د لېرې کولو غوښتنه کوي، بنا ئې
چه لمړی د هغه نظام اصول په خپل عملي ژوندانه کښې تر اجرا او عمل
لاندې راولي او وروسته بیا وضع وګوري چه آیا د هغه نظام د عملي
کولو له کبله دا مشکلات پیدا کیږي او یا له بیخه بلښانته شوي او له منځه
ورکیږي! او یواځې په هم دغه صورت کښې کیدای شي چه د هغو اجتماعي
مشکلاتو د لېرې کولو د پاره کوم چه د عملي تطبیق څخه ئې پیدا کیږي له هغه
نظام څخه مرسته وغوښتله شي!....

اسلام یو داسي بشپړ نظام او اجتماعي طرز العمل دی چه ټولې
مختلفې خواوې ئې یوله بله سره تړلې دي.

اسلام داسي یو مسلک دی چه دخپلو اصولو او قوانینو په طبیعت
کښې، د هغه فکر د ژوندانه د ټولو چارو په برخه کښې، له نوروټولو
او هغو مسلکونو سره چه نن ورځ په هیوادونو کښې موجود دي اختلاف
لري، داسي اختلاف چه په پوره ډول بوخ او اساسي دی. او بیا له هیڅ



Marfat.com

قسم شک او تردید ځنې اسلامي نظام په ټنې تولنو کښې داو سنیو مشکلاتو په پیدا کولو کښې هیڅ ډول اغیزه نه درلوده او نه یې لري، بلکه دغه ټول مشکلات د هغو بهرنیو عواملو طبیعت او خرنکوالي ځنې منځ ته راغلي دي چه په دغو ټولنو باندې حکومت لري او اسلام یې د ښو ونداله ډکرځنې لیرې کړیدی!

مګر کوم شی چه د تعجب او حیرانتیا وړ دی، هغه دادی چه د دغو مشکلاتو په باره کښې، اسلام د پوښتنې او اعتراض مورډ ګرځې او یا له هغه ځنې د حل لیارې غوښتلې کېږي، او یا په هغو چارو کښې یې نظر په پوښتله کېږي چه د هغو په پیدا کولو کښې یو ډېر کوچنی تأثیر هم نلري.

هو، ډېر تعجب ځای دی چه اسلام په هغو ځمکو کښې د پوښتنې مورد ګرځي چه په هغې کښې اسلامي نظام نه عملي کېږي، په دغو ځمکو کښې د داسې مسائلو لکه د «ښځې او پارلمان» «ښځې او کار» د زړو او ښځو اختلاط «د ځوانانو جنسي مشکلات» او د اراز نورو خبرو په باره کښې بحثونه کېږي! او بیا د تعجب وړ دادی چه دا ډول پوښتنې د هغو کسانو له خوا کېږي چه هغوی هیڅکله د اسلام حکومت نه منې بلکه د دې خبرې په تصور کولو باندې، چه ممکنه ده کوم وخت به اسلام د حاکمیت



Marfat.com

حکومت په لاس کښي ونيسي، ډېر غمجن او خواشيني کېږي.

او له دې پوښتنو څخه هم هغه ځوابونه ډېر حيرانونکي دي چه دځينو" ديني اشخاصو" له خوا ورکول کېږي او د دغسې کسانو سره د اسلام د نظريې په باره کښي د دې ډول مسايلو په بر خه کښي، هغه هم په داسې ټولنه او ځمکه کښي چه د اسلام نظام په هغې کښي نه اجرا کېږي سوال او ځواب کوي!

اصلاً اسلام نن ورځ په دې څه کار لري چه ښځې دې شورى ته لاړې شي يا نه؟ ولې د اسلام څخه پوښتنه وشي چه د نارينه و او ښځو کلې ون څه حکم لري؟ او د ښځو د کار کولو او يا نکولو په باره کښي ولې د اسلام نظريه وغوښتله شي؟ او په کلي ډول سره اسلام په هغو مشکلاتو کښي چه په يو غير اسلامي ټولنه کښي پيدا شوي او د هغې ټولنې د موجوده طرز العمل نتيجه او حاصل دي. ولې لاس ووهي؟ ولې غواړي د اړانه مسائل او د دې غوندې نورې خبرې د اسلام له نظريې سره سمې عملي شي؟ يا دې حال کښي چه اسلامي نظام او قانون د سياست له صحنې څخه، د اجتماعي نظام له ډگر څخه. د دولتي قوانينو له چوکاټ څخه او د خلکو د ژوندانه له دائرې څخه په پوره ډول لېرې کړل شوي دي.

---



Marfat.com

داسلام افکار او نظریات تجزیه نه قبلوي ، یا دې دهغه ټول احکام په کار واچول شي او یا دې د اسلام پواځې باقي ونه منلي شي !.. داچه دځینو چارو په برخه کښې چه په دوهمه او دریمه درجه کښې دي ، د اسلام فکر وغوښتل شي او په هغو غټو او مهمو مسائلو کښې چه د ټولنې او اجتماع بنسټ په هغو باندې ولاړ دی ، د اسلام نظریو ته هیڅ توجه ونشي ، بې له لوبو او ساعت تېرۍ څخه بل شي نه تعبیرېږي او هیڅ مسلمان لره نه ښائي چه دا کار په اسلامي کار وګڼي او یا دهغه ځواب ووائي . . .

نو دهغو ټولنو د دوړوکو مشکلاتو ځواب ، چه د اسلام قوانین نه اجرا کوي دا دی چه وویل شي : بلې اسلام ته په ټولو چارو کښې د خلافت ورکړئ او دهغه ټول قوانین او احکام عملي وګرځوئ . وروسته بیا دهغو مشکلاتو په باره کښې چه پیدا کېږي دهغه نظریه وغواړئ ، نه داچه دهغو مشکلاتو دحل لپاره چه د یو غیراسلامي نظام څخه پیدا شوي له اسلام څخه وغواړئ ! . . .

اسلام په یو مخصوص ډول دخلکو روزنه کوي او دهغوي په منځ کښې دمنتخبو قوانینو سره سم حکم کوي او دهغوي چارې د یو مخصوص اساس دمخه اداره کوي ، او دهغوي دپاره اجتماعي او اقتصادي پالې او یو ډېر لوړ احساس پیدا کوي ، او دغه



Marfat.com

حساب له مخه لمړی داسلام تول قوانین د حکومت په سیستم کښی، تقنین په مواردو کښی، د روزنی په اصولو کښی اجرا کړئ او وروسته بیا وګوری چه د غه مشکلات چه تاسوئی یادوئ په خپل ځای کښی پاتی کیږی او یا یخپله له منځه ځی؟ مګر اسلام پخوا الله دی چه د هغه اصول په تولو چارو کښی د بشپړی اجرا صورت ومومی، له هغو مشکلاتو سره چه د یو غیر اسلامی جامعی څخه منځ ته راغلی دی څه کار لری؟

داهغه مشکلات دی چه د اسلام سالمه او روغه جامعه هیڅ کله هغو ته په خپلی تولنی کښی لیاره نه ورکوی.

لمړی داسی یو اسلامی تولنه جوړه کړئ چه په هغی کښی د اسلام تول اصول او قوانین جاری او حاکم وی، او دنارینه او ښځو روزنه، پرکورو، ښوونځی او تولنه کښی په اسلامی توګه سره وکړی او وروسته بیا هغه ضمانتونه او سعادتونه چه اسلام په ټرونډانه کښی د تولو خلکو لپاره په غاړه آخیستی دی عملی کړئ، او هغه راز عدالت او انصاف چه اسلام ئی د تولو د پاره غواړی منځ ته راولئ، نو بیا په د غه وخت کښی له ښځو څخه پوښتنه وکړئ چه آیا دوی داغواړی چه پارلمان ته لاړی شی او یا دا چه د دغو ضمانتونو او وعدو سره نوری دول کوښښونو ته اړتیا نلری؟... په دغه وخت کښی له ښځو ځنی



Marfat.com

پوښتنه وکړئ: آیا تاسي داغواړئ چه په مغازو او دفترونو کښی کار وکړئ؟ هیڅ شک نشته چه ستاسي د دغو پوښتنو ځواب به منفي وی، ځکه د دوی روحی او جسمی شرطونه او مقتضیات په خارج کښی د کار کولو ایجاب نه کوی.

په دغه وخت کښی له هغو ځنې پوښتنه وکړئ چه آیا دوی غواړی د نارینه و سره کلړ ون پیدا کړی او خپل ځانونه د ټولو خلکو د ننداری لپاره ښائسته او سنګار کړی؟ او یا صحیح او اسلامی روزنه دوی د حیوانی او شهوانی محرکاتو څخه کوم چه د حیوانانو د شهوتو په څېر دی، لیري ساتی؟ هیڅ شک نشته چه د هغوی اسلامی احساس او ادراک به موجب او باعث شی چه له پاک خدای په شرم او حیا وکړي او خپل ځانونه له فسا د او ورانی څخه وساتی.

کله هم ځینی خلک داپوښتنه کوی چه یوه ډله خلک دا خبره کوی. زه هم داوګورم چه د اسلامی قانون داجرا په نامه هر کال د زرګونو غلو لاسونه غوڅ کړای شی ... دا راز خلک په یوه اشتباه کښی لویدلی، او هغه کسان چه دې ډلې نه د اسلام فقهی ځواب ورکوی په دوو اشتباهو اخته دی، داپه زرګونو غله چه هر کال نیول کیږی د اسلامی ټولنې د اسلام د اجتماعی سیستم محصول



Marfat.com

او نتیجه نده ، بلکه هغوی ټول د بلې ټولنې محصول دی چه اسلام ئې له خپل عملي ژوند نه ځنګه لیرې کړي دي، او د هغه په ځای باندې داسې قانون ئې جوړکړي دي چه اسلام هغه ته قیمت نه ورکوي . هغوی د داسې یوې ټولنې حاصل دی چه غواړي یوه ډله خلک دې دوږ ی او د محتاج په نامه وجود ولري بې له دې څنې چه د هغوی د مشکل د لیرې کولو لپاره ئې یو اساسي فکر کړي وي . داسې ټولنه چه د ملیونو افراد دو د استوګنې او خوراک او کالیو چاره نکوي او انساني روح نه روزي . او د خپل ژوند رابطه د « خدای » او د « خدای د قانون » سره نه تړي .

---

هر و مرو به پوښتنه وکړئ : چه اسلامي ټولنه څنګه ټولنه ده ؟ اسلامي ټولنه ، داسې ټولنه ده چه د هرچا د هستوګنې ځای ، خواړه او آغوستنه اعم له کارګرو ، بیکاره ، تکړه ، ناتوان ، روغ ناروغ ، زاړو ښځو ځنګه په هغې کښې ضمانت شوي دي او د بیت المال او د ټولنې او د خلکو د چارو د اداره لپاره په کال کښې د هرچا د ثروت ځنګه یو څه لاس ته راولي ( د هغه مقدار د اصل سرمایي ځنګه په کال کښې دوه نیم په سلو کښې دي او په اجناسو کښې د زکات قانون



Marfat.com

تفصیل ورکوي - زموږ شیعه وروڼه پښتنه مني ،) اوکه چیرته له دې ځنه زیات لازم وګنل شي بې له هیڅ کوم ډول قید او شرط څخه په هغه اندازه چه د اسلام صالح دولت ، هیواد داستقلال د ساتنې او د ټولنې د چارو د اداره له پاره ، لازم وګني ، کولای شي چه د خلکو ځنه واخلي .

هو ! لمړی د دغه نظام احکام اجرا کړئ او وروسته بیا وګورئ چه د محتاجو خلکو شمیر څومره دی ؟ او د هغو کسانو شمیر چه په مالونس او دایمان څخه په ډک زړه سره ئې په غلا لاس پورې کړي وي څومره دی ؟

---

او همدا راز ځینې خلک دیوې ټولنې د « ځوانانو جنسي مشکلات » په برخه کښې د اسلام د نظریې پوښتنه کوي . دوی داسې ځوانان ګوري چه په یو غیر اسلامي اجتماع کښې چه د جنسي ټول محرکات او موجبات په هغه کښې وجود لري ، عمر تیر وي ، او بیا وروسته تر دې د دغو ځوانانو د مشکلاتو په باره کښې چه تل د جنسي تحریکاتو په معرض کښې واقع دي د اسلام نظریه غواړي .

په اسلامي ټولنه کښې هیڅ کله لوڅې او بربنډې ښځې ، او ځوانې



Marfat.com

چه ځانونه لې ښائسته او جوړ کړي وي، په هر کوټ او هر ځای کښې نه کرځي چه شيطاني فساد او وراني جوړې کړي ... اسلامي ټولنه به هيڅکله رسوا او حيا وړونکې فلمونه، نارې وغه موسيقي او تصنيفونه لکه د «عبد الوهاب» او د «ام کلثوم» تصنيفونه او فلمونه ونلري ...

په اسلامي ټولنه کښې به هيڅ کله داسې ورځ پاڼې، مجلې او نورې نشرې وجود ونلري چه په آزادانه صورت سره، هر ډول عکسونه او شهوت ښوروونکې قصې، د جنسيت هر راز خبرې او مطالب، بې له پردې څخه خپاره کړي، او لکه فساد جوړوونکې مواد به هر ځای کښې فساد ايجاد کړي.

په اسلامي ټولنه کښې شراب نه پيداکيږي چه د خلکو ځنې واک او عزم ايسته کړي، او شهوت کارې او عياشۍ هغوی ته ښه ورښکاره کړي .... لنډه ئې دا چه په اسلامي ټولنه کښې به قول ځوانان وکولای شي چه ژر تر ژره واده وکړي، ځکه چه «بيت المال» او عمومي دارائې» داوظيفه لري د هرچا سره، چه د واده کولو قصد ولري، لاس هم مرسته وکړي.

تاسې که د اسلام نظريه د ځوانې دلې د مشکلاتو په برخه کښې غواړئ



Marfat.com

لمړی، د اسلامی نظام ټول اصول او احکام اجرا کړی او په هغو باندې عمل وکړی او وروسته تر هغه، نه مخکښی تر هغه، وګوری چه آیا کوم مشکل د "ځوانانو د مشکل" په نامه شته او یا نه؟ ...

ځوانان په نظر کښی هر ډول پوښتنه، په هره موضوع کښی چه د اسلامی احکامو له اجرا څخه نه وی پیدا، او اسلام د خلکو د عملی ژوندانه څخه کاملاً په یو اړخ وی، د اسلام څخه هر ډول پوښتنه په اسلام پورې توکی کول دی لکه چه ځما په عقیده د دغه ډول پوښتنو په مقابل کښی د هر چا له خوا څخه چه دی ځواب ورکول، د اسلام په مسخره کولو کښی شرکت کول دی!

زه له هغو کسانو څخه چه نن ورځ د اسلام په نامه غږ ونه پوښتنه کوی، چه ښځې دې نه ښائی له کوره څخه د باندې په کار بوختې شی یا نه ښائی چه په پارلمان کښې شرکت وکړی او یا ښائی چه اوږده کالی واغوندی! سره ددې چه ښه پر احترام د هغوی سپیڅلی نیت او احساس ته لرم، اجازه غواړم چه ووایم: چه هغوی په غیر ارادی توګه سره په اسلام ملنډې وهی. او دا ځکه چه هغوی ټول مشکلات او مفاسد په دغو څو ورځو خبرو کښی منحصر ګڼی.

باید د هغوی ټول قوتونه د اسلامی نظام او قانون د تطبیق په لیاره



Marfat.com

کښې د شروندانه په توګه لوار خونو کښې مصرف شي، باید د هغوی هدف داوی چه اسلام په دولتي قوانینو او د ټولنې په نظام باندې مسلط او حاکم وي، او اسلامي مروزنه په ښوونځیو او ژوندانه کښې ننوځي، بايد هغوی اسلام د بشپړ ونظریاتو په حیث په بشپړه توګه وغواړي، ترڅو چه اسلام وکولای شي د شروندانه په ټولو خواو وکښې خپل کار عملي کړي، ځکه چه دا کار د اسلام په عزت او شرافت ختمیږي او د دیني مبلغینو او لیاړښوونکو عزت او احترام په هغه کښې دی.

البته دا کار په هغه صورت کښې کیدای شي چه هغوی په خپل دعوت کښې اخلاص ولري او زحمت په ځان قبول کړي او که چیرته ئې مقصد داوي چه یوازې یو غږ پورته شي او خلک یو شمېر کسانو ته متوجه شي او په دغه حال کښې هغوی له هر ډول خطر او ضرر څخه په آرام پاتې شي، نو دا یو بېل مطلب دی! ..... او نن په دې خوشحاله یم چه کم له کمه دغه اشخاص ځانو باندې د اسلامي دلي او دیني اشخاصو نوم کښیږي دی.



Marfat.com

# دخلکو بلنه د اسلام خوانه

اسلام د زړه او وجدان عقیده ده چه په قولنه کښې د انسان د عمل څرنګه والی له هغه څخه موجودیږي او د هغه په اساس باندې د ژوند نظام ټینګیږي، دا د ژوندانه نظام پوښتنه او جامع نظام دی چه د فرد کوښښ او زیار ایستلو سره، په کورنۍ، اجتماعي او بین المللي ژوند کښې ارتباط نیسي، او په دغو ټولو برخو کښې د هغه په راز راز روابطو باندې حکومت کوي او داسې قوانین تاسیسوي چه دغه ټول روابط منظم کړي.

او د دغه اصل له مخې امکان نلري چه، په اسلامي ژوندانه کښې د فرد په زړه کښې د موجودې عقیدې او د هغه شریعت او قانون ترمنځ چه د ده په ژوند باندې حکومت کوي کوم توپیر راشي. دا قانون او شریعت بې د دغې عقیدې څخه نشي کولای چه ټینګ پاتې شي، لکه څرنګه چه کوم وخت د انسان په ضمیر او زړه کښې عقیده موجوده



Marfat.com

شي کوښښ کوي چه په عملي ژوند کښې هر کار په "قانوني" بڼه او شکل ورسره څرګند شي، او په دې ترتيب سره په اسلامي اندښنه کښې د دغو دواړو ترمنځ هيڅ ډول توپير او بېلتون وجود نلري! او همدغه حقيقت دا ضمانت کوي چه موږ د خلکو په ملنه کښې د اسلام خوا ته خپله لياره وټاکو، لکه چه څوالدي څنګه ئې هم د دغه اسلامي دعوت خط مشي او پروګرام دهغه په تاريخي موجوديت کښې ټاکلی دی.

د خدای پيغمبر محمد (ص) خپله بلنه شروع کړه او وروسته تر هغه بوه دله خلک ورسره يوځای شول او اسلام ئې ومنلو، خپل دعوت ئې د يو "منظم کوونکي قانون" په څوکات او د يو "زمام لرونکي" په شکل کښې پای ته ورساوه. د اسلام پيغمبر د قيصر کار قيصر ته او د خدای کار خدای ته پرې نښود! ددې لپاره چه اسلام هر شي د خدای لپاره غواړي او له خدای څخه ئې کښې او حاکم يواځې په هغه وخت په رسميت پيژني چه د خدای قانون اجرا کړي او د ژوند انه اداره د خدای د پروګرام سره سمه وکړي.

نن ورځ دغه تاريخي واقعيت او د اسلامي نظريا تو په طبيعت کښې دغه روښانه حقيقت، دواړه يوځای څرګندوي لپا



Marfat.com

دخلکو په بلنه کښې د اسلام په لوړې روښانه کوي ، او اسلام په
نن ورځ کښې بې له هغې لیاړې څخه چه دهغې په ذریعه ئې پرون
وړاندې تګ کړېدې بل لیاړ ځې ته نشي نیولی او هغه لیاړ دا ده چه
د مسلمانانو غړي په ترتیب او د سره جوړ ولو کښې ټینګار وباسي ، نو بیا
کارېځپله د اسلامي رژیم دتحقق میندلو لیاړې ته سمېږي ، خو دا خبره
باید هېره نکړو چه نن ورځ د اسلام د دعوت په لیاړه کښې ځمونږ
اقدامونه دې پوړانه تو په ولري ترڅو چه وکولای شي دهغي زمانې
دحال سره ، چه مونږ په هغې کښې ژوند کوو او هغو څیزونو سره چه
نن ورځ په ژوندون کښې منځ ته راغلي دي جوړښت ولري .
بې له پاک خدای څخه د بل چا عبادت ، هرشی چه وي ، که
د پخوانیو ډوغو تصوراو او هام و عبادت وي یا د پیستو آرزوګانو
او شهوتو نو توګه ، د بشر قوتو نه په داسې لیاړ کښې عبث او بیځایه
لګوي چه د انساني مقام وړ نه دی . دا پرستشونه توګه ، د بشر څخه
د صنعت او کمال څخه کرځوي او بشر د شرافت منده ژوندون څخه
چه پاک خدای د بشري افرادو لپاره لازم ګڼلې دی او د اصلي
وظائفو او چیاري سره د بوخت کېدو او مصروفیت څخه منع کوي .
په واقع کښې د پیغمبر (ص) په زمانه کښې داډېره مهمه او



Marfat.com

لمړنۍ خبره د توجه موړ دوه، او همدا خبره سبائي چه زمونږ په زمانه کښې هم ډېره لويه او مهمه خبره وګڼلې شي، مګر نه يوازې دوينا او غږ په لوله لياره نه ځي: بلکه د عملي لياره ښوونې او ادائ له حيثه ځني هم سبائي چه دې خبرې ته ډېره توجه وشي او هغه داده چه مونږ هڅه وکړو تر څو کولای چه خلک د اسې يو کار ته وبلو چه ځمونږ په شخصي ژوند انه کښې هغه کار تر اجرا او عمل لاندې نه وي او که چېرته مبلغين او لياره ښوونکي اشخاص ځپله په يو داسې کار کښې چه خلکو ته د هغه په لوړې بلنه کوي، روښانه نمونه او عملي برهان نه وي، هڅه کله به دا ډول تبليغ قيمت ونلري.

اوالبته چه ځمونږ د نړۍ د موجوده احوال او د پيغمبر د زمانې د احوالو په منځ کښې له دې کبله هيڅ ډول اساسي توپير وجود نلري که څه هم ځينې وګړي داسې ګمان کوي چه ځمونږ په زمانه کښې کوم مجوز او موجب وجود نلري چه مونږ د راز راز خدايانو د عبادت څخه د خلاصيدو لپاره خلک وبلو. مګر خبره هيڅکله داسې نده، ځکه چه ځمونږ په زمانه کښې د مختلفو خدايانو عبادت د هغو مختلفو خدايانو له عبادت څخه چه د جاهليت په دوره کښې معبودو هيڅ کم نه دي، بلکه



Marfat.com

کوم شی چه تغیر مومندلی، هغه دخدا یانو نوع او څرنګه والی دی نه دهغوی عبادت او پرستش !...

اوالبته چه دشهواتو په پرستش کبنی او دخرافاتو او چهیاتو په پرستش کبنی هیڅ ډول تحول نه دی پیدا شوی .

---

دا تغیر چه مو وویل نن ورځ په خپلو اقداماتو کبنی ورته لو اړتیا لرو، عبارت له دی څخه دی چه، دیوتن مسلمان په جوړولو کبنی، یواځی په عقیدی او عمل باندی اکتفاء ونکړو، بلکه بنائی چه ددی دواړو په ملتیا دټولنه د یاره اجتماعی پروګرامونه چه د اسلامی نظر یاتو د اصولو په پائی باندی او له اسلامی قوانینو څخه سید اوی، هم وړاندی کړو ، او ددغو پروګرامونو په وړاندی کولو کبنی نه بنائی دی خبری ته انتظار وباسو چه دمسلمانو افرادو دجوړولو او روزنی دوره پایته ورسیږی ... او نه بنائی چه داپروګرامونه څنګه چه داسلام په ابتداء کبنی په تدریجی ډول او برخه برخه او په ډیل او وړو وړو جاری وو وسنو دل شی بلکه بنائی چه ټول پروګرامونه یوځای اعلام شی . دا یواځی داسی تغیر دی چه بنائی مونږ هغه په خپلو نقشو کبنی ترنظر لاندی ونیسو او



Marfat.com

دا حٔمونږ د پېړۍ داسې یو ضرورت دی چه مونږ پرته د هغه له قبولولو څخه بله لیار نلرو، او د هغو طبیعي اوضاعو او حالاتو له مخې چه مونږ ورسره مخامخ یو.

کله چه عظیم الشان پیغمبر (ص)، خپله بلنه او دعوت شروع کړه، په جزیرة العرب کښې تېنګ حکومت، روغ سیستم او طرز العمل او تاکل شوي اجتماعي سنبو وخیو وجود نه درلود. او همدا رنګه په ټوله نړۍ کښې، راز راز سنبو وخځ چه د حکومت، ټولنې او اقتصاد د لپاره پروګرامونه ولري، په دې وضاحت او روښنوالی چه زمونږ په عصر کښې لیدل کېږي وجود نه درلود، او له هغې امله اسلام وکړای شو چه د خپل اجتماعي نظام اساس ورو ورو او لږ لږ کښېږدي او د ډرونډ نه په باره کښې خپلې نظریې د هغې رشیدې او نیک مرغې ټولنې د رشد او ترقي سره چه د هغې د جوړولو په حال کښې و، په همغو قدمونو او مروړ سنکاره کړي، او په پای کښې د خپل نظام له تکمیل نه وروسته ټول نظامونه او سیستمونه چه د هغې ورځې په نړۍ کښې لا جریان درلود، مات کړي او پر هغو باندې غالب شي.

البته په دې خبره کښې شک نشته چه، دا بریالیتوب لکه



Marfat.com

چه ځینې خلک ګمان کوي، دوسلو په زور نه ؤ، بلکه د هغې اندیښنې او سپېڅلي فکر په زور ؤ چه مسلمانانو له ځان سره درلود . . .

د اسې فکر او اندیښنه چه د هغې ورځې فکرونه او سنو ورځو هڅکله نشواي کولي چه د هغه سره برابري وکړي او ور سره مقایسه شي .

په آزادي ښېښلو کښې، اسلامي فکرونه او نظریات دومره لوړ او وتلي وو چه بشر د هغه ساري بېخي نه وو لیدلي، او د اسلام د غه آزادي بښېښلو خاصیت ترنن ورځې پورې هم، په خپل اصل حقیقت باندې پاته دی، او په دې لیاره کښې د لبشر په ټولو اقدا ماتو باندې ځک والي او امتیاز لري، او مونږ باید چه هغه په داسې یوه مناسبه بڼه او شکل باندې خلکو ته وړاندې کړو، چه د زړه ناني د وکړو د منلو مورد وګرځي، او د هغه اصل او حقیقت خلکو ته ثابت کړو .

په ننني نړۍ کښې، رنګا رنګ اجتماعي نظریات حکومت کوي، او که مونږ خلک د اسلام خزانه ته را وغواړو، نو لازمه ده چه د نورو په شان، د اسلام اجتماعي نظر او فکر مفصل بیان کړو، او هیڅ شک نشته چه د مسلمان فرد د جوړولو او روزنې څخه ځکښي یواځې نشي کولای چه د هغه ژوندن اصلاح کړي او



Marfat.com

هغه وړاندې يوځي، بلكه هغه مسلمان فرد چه په دې نظريه باندې ايمان لري او هغه په بشپړ توګه عملي كوي او د ژوندانه په ټولو برخو كښې د هغې په تحقق ميندلو كښې زيار وباسي، بخپله كولاى شي چه د دې نظريې وړاندې تګ په غاړه واخلي، او بيشكه نن ورځ د مسلمان فرد روزنې ته اړتيا لرې، چه هغه د اسلام د اجتماعي نظريا تو څخه پوره پوه او واقف وي، د دې لپاره چه بې د داسي نظريې له وړاندې كولو څخه چه هغه د نني عصر د ژوندانه سره تطابق ولري « ديني وجدان » نه جاري كيږي بلكه چه « انساني حركت » وجود نه مومي.

هغه كسان چه موږ ئې د اسلام په لوړې غواړو، نوره داسي سيستمونه او سنوتځي كوري چه د خلكو د ژوندانه واكې ئې په لاس كښې نيولې او نه ئې پرېږدي چه د هغوى رفتار او عمل په پوره توګه د ول سره اسلامي وي، او دا ځكه چه د ژوندانه او سني پايلې د اسلام په بنسټ باندې ټينګې ندي. او همدا سبب دى چه د هغوى ديني وجدان د عملي ژوندانه له معكوس واقعيت سره تصادم كوي، او د غه د وجدان او عمل تصادم، په پاى كښې د بشر افراد داسي يوې مرحلې ته راكاږي چه اسلام هغه مرحله بخوا لپخوا خلكو ته ښودلې او د هغې نقشه ئې ايستلې ده، خو كه يوائې موږ وكولاى شو د اسلام حقيقي بڼه خلكو ته ور وپيژنو،



Marfat.com

او نظر دي خبرې ته ښائي چه د اثر ونډون په ښکاره او د ورښانه ډول خلکو ته ور ونښودل شي ترڅو چه د هغه د خارجي وجود او تحقق لو مینځ لپاره مسلمان افراد په پوهه او ښکاره دلیل سره لازمه اقدامات وکړي.

او د دغه اصل له مخه نن ورځ دا خبره کافي نده چه مونږ خلک د اسلام، قرآن، دخدای احکام، اسلامي قانون، د اسلام حکومتي نظام یا د اسلام اجتماعي سیستم ته په نامعلومه توګه سره راغواړو.

د خلکو بلنه به د دغه راز کلي مسائلو د منلو لپاره بې له دې څخه چه په ما غزو کښې ئې پوره روښانه او مفصل مدلول پیدا شي صحیح او کټمور نه وي.

د پر ضرور دي چه مونږ د اسلامي افراد و د روزنې او پالنې لپاره مرکزونه ولرو. دا د کار بنسټ او اساس دی. په دې مراکزو کښې دې هغوی په پوره ډول له د غو حقایقو سره آشنا شي چه؛ دیو اسلامي ژوندون لپشیړ بنه چه د دوی دیني وجدان د هغې خواته دوی راکاږي او ښائي چه د هغې په تحقق او پیدا کېدو لو کښې کوښښ وکړي څه شی دی؟ . . . او البته دا پېژندګلوي او معرفت، ښائي چه د اجتماعي نظریاتو د ښودنې په تشکل عملي شي ترڅو خلک د اسلام د هغو اجتماعي نظریاتو په برخه کښې صحیح



Marfat.com

معلومات ولري چه دټولنه تول اړخونه او دهلواو افرادو روابط او هغه پايې چه عمومي ټولنه په هغې باندې ولاړه دی، په هغې کښې داخل وی.

دا يو داسي پروګرام نه دی چه بل وخت ته وځنډول شي او وويل شي چه دا کار به داسلامي حکومت له جوړيدلو څخه وروسته عملي شي ځکه چه اسلامي حکومت، يوازې په هغه وخت کښې جوړيدای شي چه خلک په عمومي ډول او يائې ډيره برخه، داسلام له نقشې سره دټولنه په باره کښې سمه معرفت پيداکړی او وپوهيږي چه کله چې ته اسلامي ټولنه شروع شي د دوی د روابطو، حقوقو، تکاليفو او وظايفو بڼه او شکل به څرنګه وی؟

هيڅ کله دا خبره کافی نده چه مونږ نن ورځ خلک په لنډه او اجمالي ډول سره لکه د پيغمبر (ص) د زمانې په شان داسلام خواته راوبلو، ځکه چه په هغه وخت کښې داسی اجتماعي او متضادی سنووڅخې چه اسلامي سنووڅخې او دعوت سره مخالفت او مقابله وکولای شي - وجود نه درلود.

او اصولاً اوس، چه اسلامي نظريات له تولو نورو هغو نظرياتو څخه چه بشريت ئې نن ورځ پيژني، ډېر لوړ او مختلف کښې دی، نو مونږ



Marfat.com

هغه ولې خلکو ته وړ وړاندې نکړو ؟ او په کوم وخت کښې چه خلک د اسلام خواته راوغواړو ولې د هغه اجتماعي نظريات په دې حال کښې چه د وخت اوضاع او شرائطو ته هم وګورو د ننني ژوند سره تطبيق نکړو.



Marfat.com

# ځوونږ لیاره او طرز العمل

د اخوان المسلمینو حرکت او لیاره، یوه ښکاره او روښانه لیاره ده چه په هغې کښې هیڅ ډول کوږوالی او ابهام نشته. مګر سره د دې د اخوان المسلمینو له محیط څخه د باندې او په هغو کسانو کښې چه ځوونږ تشکیلاتو سره ارتباط او علاقه نلري داسې کسان ډیر لیږ دي چه د دغې لیارې حقیقت څرنګه چه دی کشف او درک کړی.

د اخوانو لیاره هماغه د اسلام لیاره ده .... په اسلامي اصولو او پایو باندی د ټولنې د بیا جوړولو لیاره ده. او له همدې کبله بایل لمړی د اسلام اصول او پایې وپیژندلی شي: او دا دې وویل شي چه اسلام داسې یوه عقیده او یو ډول فکر دی چه «قانون» له هغه څخه صورت نیسي او همدغه قانون په اساس باندی «اجتماعي» نظام لی ښینګیږی... مګر کوم خبره چه په دې ځای کښې د توجه وړ ګرځیدلې ده هغه داده چه اوس په اسلامي ممالکو کښې غیر اسلامي اقلیتونه چه



Marfat.com

ژوندون کوي او ړ از ړانه عقاید او افکار لري، د دغو اقلیتونو حال به د اسلامي اصولو د اجرا کېدلو په مقابل کښې څرنګه وي او نتیجه به ئې څه شي؟

له نیکه مرغه اسلامي نظریات د دې پوښتنې په ځواب کښې په ښکاره او آسانه توګه سره وائي: د اسلام اجتماعي نظام د مذهبي اقلیتونو د پاره چه د بیعت په توګه او سېږي د عقیدې د بشپړې ازادي ضمانت کوي او په افکارو، د عاکانو او عبادا تو کښې او همداراز د هغوی د داخلي ژوند دانه په کیفیت کښې هېڅ ډول شرکت له اسلام سره نه پیدا کوي بلکه داتول شیان، د هر اقلیت د عقیدې او ایمان سره سم عملي کېږي او اسلامي دولت له هغوی څخه په هېڅ یوه کښې هوم ډول دخالت نکوي مګر د «عقاید و د ساتنې قانون» په چوکاټ کښې چه د هغه کیفیت او څرنګه والي د دغه اجتماعي نظام په سیوري کښې به د «اسلامي عقیدې» له وضعیت څخه جدا نه وي او په بل ړو ښانه عبارت سره داچه، د اسلامي عقیدې او د نورو مذهبي عقیدو خاوندان به له یو قانوني حقوقو څخه لیکوړ شي. مګر کوم قوانین چه باید په ټولنه کښې اجرا شي او د اجتماعي ارتباطاتو مشکلات (بې له شخصي داخلي احوالو او شخصي ژوندون چه ټولنې سره هېڅ ډول ارتباط نلري) باید ټول د اسلامي



Marfat.com

اصولو سره برابروي، او په حقیقت کښې د دغه قانون نقش اولوبيږي، د اقلیتونو په مقابل کښې، د هر بل قانون څخه، چه د اجتماعي ژوندان اصول برابر کوي، ښه او نهايات دی. اسلامي اصول ټولو جنائي، مدني، تجارتي او بین المللي قوانین لوړ چه په اخلاقي او معنوي پایو باندې ولاړ دي او د ټولو ادیانو خاوندان هغه مني، ځکه، اسلامي قانون د مسیحیت او یهودیت روح ته له فرانسوي قانون څخه نژدې دی کوم چه نن ورځ خمونږ په سر نوشت باندې حکومت کوي او نهایتره د پخواني روم د بت پرستۍ او مادیګرۍ په قانون باندې مستند دی، نه د مسیحیت په واقعیت . . .

ځکه چه دا اسلامي نظام کښې د عقیدې او د مذهبي دودونو ډېره لوړه آزادي، د داخلي ژوندانه د قانون آزادي او شخصي احوال تضمین شوي، او د دغو آزاديو ساتنه د دغه نظام د پروګرام اساسي جزء ګرځېد، او که د اسلامي شریعت مبادي او اصول، د نوي قانون ایښودنې لپاره داسي اساسونه ګڼل کیږي چه او سنیو قانون ایښودونکو ټولو، په دې خبره باندې اعتراف وکړ چه دا قانون او اصول د هغه مدني قانون څخه چه د پخواني روم له قانون او اصولو څخه پیدا شوي دي (او د غربي جوامعو ګڼلار تعیینوي) ډېر ښه او لوړ دی، ځکه چه د ټولني



Marfat.com

مدني، تجارتي او جنائي قانون د اسلامي شريعت له انساني اصولو څخه وتلي او جوړ شوي وي، د مذهبي اقليتونو څخه د کوم يوه د پاره نقصان او تاوان پېښوي؟

نو د يو تن مسيحي لپاره، مثلاً د اچه حکومت خپل قوانين له اسلامي شريعت څخه واخلي او يا د فرانسوي قانون له مخه جوړ کړي څه توپير لري؟

په دې حال کښې چه فرانسوي قانون د يو تن مسيحي د پاره، له هغو حقوقو څخه چه اسلام هغه ته تضمينوي څه زيات نه دي ټاکلي، او د هغه په سيوري کښې زيات له هغو حقوقو څخه چه د اسلام شريعت د هغه د ديني وجدان او مخصوص عباداتو او شخصي چارو کښې ورکړي نشي مومندلای د اسلام دي چه د هغه په دغو مسائلو کار نه لري بلکه د هغه تضمين او ساتنه په داسې ډول سره کوي چه تر هغه پورته متصور نه دي.

حتی په جنائي، تجارتي او مدني قانون کښې هغه څيزونه چه په ديني عقيدې پورې تړلي دي او يا له هغې څخه پيدا وي، د اسلام مسلک، په پوره ډول سره د دې خبرې مراعات کوي چه په هغې برخې کښې هم مذهبي او رسمي اقليتونه هغو شيانو ته مجبور نه کړل شي، کوم چه د هغوی له عقيدې سره تماس لري. د مثال په ډول دې وويل شي: چه اسلام په مسلمانانو شراب حرام کړي دي او شراب خوار مسلمان ته



Marfat.com

ئي په مخصوصه توګه جزا تا کلي ده ، مګر که چيرته په اسلامي ټولنه کښي داسي يو اقليت موجود وي چه د دوی مذهبي عقيده ، د شراب څښلو اجازه ورته ورکوي د شراب څښلو په مقابل کښي هغوی ته جزا نه ورکوي ، (البته بنائي چه د اسلامي ټولني د ظواهرو مراعات وکړي) . او همدا رنګه اسلام ، شراب او بد خنزير د رسمي مال په نامه نه پيژني او هغوته ئي مالي قيمت نه ورکوي ، په داسي معني چه که يو مسلمان فرد شراب او يا بد خنزير (خوك) ولري او هغه څوك له منځه يوسي ـ نه کوم جزا لري او نه د تاوان عوض لري . مګر که چيرته د غه شيز ونه د يو داسي فرد مال وي چه د هغه دين د شراب او خوك د اخيستلو او خرڅولو اجازه ورکوي بې شکه څوك چه د هغه د تلف کولو سبب ګرځي متجاوز ګڼل کيږي او بايد چه د هغه تاوان ورکړي .

او همدا رنګه ده د زکات خبره : چه د اسلام له نظره هم د ماليا تو په عنوان ګڼل کيږي او هم د عبادت په ځاي . او همدا سبب دی چه د نورو مذهبونو خاوندان که چيرته هغوی ځپله د زکات په ورکولو خوښ نه وي ، اسلام هغوی د غه کار ته مکلف نه ګڼي ، بلکه هغوی د زکاة پر ځای ، داسي ماليات ورکوي چه د عبادت او د اسلامي مذهبي فريضې معني نلري تر څو چه هغوی د يوې اسلامي فريضې په



Marfat.com

پر ځای کولو باندې مجبور نشي . او البته چه هغوی د اجتماعي حال په تأمينولو کښې برخه لري او بايد چه شريک وي ځکه چه هغوی پخپله د اجتماعي حال د ښه توب او د هوساينې له ثمراتو څخه چه ترکاته د هغه لپاره ټاکل شويدي ګټه اخلي، او د همدغې لپاره څخه د عمومي آرامۍ او اجتماعي تضمينونو څخه استفاده کوي .

او په دغه ترتيب سره ګورو چه اسلامي نظام د آسماني اديانو د تابعينو په برخه کښې، نه يواځې په شخصي مسائلو کښې، بلکه د جنائي، مدني او تجارتي قانون جوړولو په برخه ساحي کښې هم د ډېرو ډېرو لوړو وجداني احساساتو ته کتلي او په نظر کښې ئې نيسي او د اکار په حقيقت کښې د ومره ځکه او عالي مفکوره ده چه څو مونږ د نړۍ له قوانينو څخه هيڅ يو قانون له هغه څخه نشي پوره کېدلاى او حتى چه ورسره نشي برابر يدلاى .

له بده مرغه مونږ ګورو چه د «اسلامي حکومت» د څرنګه والي په باره کښې خصوصاً د جزاء په برخه کښې ګمراه کوونکي او دروغ پروپاګنډونه په هر ګوټ کښې خپاره شويدي، او د مثال په ډول مغرضينو د غه د لاس پرې کولو په موضوع کښې ، ډېرې حيرانوونکې د روغجنې قصې جوړې او خپرې کړيدي، ممکنه ده بې خبره خلک داسې



Marfat.com

فکر وکړي چې د اسلامي حکومت د جوړېدلو سره به سم د لاسه، په نړهائي خلک ولیدل شي چې لاسونه به ئې پرې شوي وي، او دا یوچټي او غلط فکر دی. اسلام به هغه وخت کښي د غلا لاس غوڅوي چې د ټولنه ټول مادي وسائل ئې د ټولو خلکو لپاره چمتو کړي وي، خوراک، کالي، د استوګنې ځاى او د ژوندانه نور ضروري اسباب ئې ټولو ته تیار کړي وي، او به د غه وخت کښې که چیرته څوک د ژوندانه د تأمین نه وروسته، بیا هم تېرې کوي، نو د هغه لاس پرې کېږي او داد دي لپاره چې دی بې شکه بې له دې ځني چې کوم رښتیاني اضطرار او اړ تیا ورته پیښ شوي وي، غلا ته ئې لاس پورې کړي دی، مګر که چیرته د مجبوریت او اضطرار اشتباه منځ ته راغله نو د شرعي حد له اجرا او لاس پرې کولو څخه صرف نظر کېږي او د غه سړي په مناسبو تنبیهاتو سره لکه بندي تو ب او نورو اصلاح ته راتلل کېږي. او په دغه ترتیب سره باید وپوښتل شي: دیوتن مسلمان یا غیر مسلمان دپاره څه تاوان او ضرر دی چې د غه اجتماعي نظام جوړ شي؟ او هر کله چې دا سې یو قانون تر اجرا لاندې نیول کېږي چې د، سوغ او له امنیت او هو سائي څخه ډک ژوندانه طبیعي اصول تضمینوي نو په دغه صورت کښې کوم شی ددې باعث کرځي چې خلک د غسې سیستم د راتلو څخه وېره او غم ولري.



Marfat.com

مونږ غواړو چې ټول خلک په اسلامي روزنې سره، وروزل شي، لوړ او انساني اخلاق زده کړي او بیا ئې په کار واچوي، تر څو وکولای شي چې قانون په بشپړ اخلاص سره اجرا کړي او په ښکاره او پټه کښې پاک خدای ناظر او تماشاکوونکی وګڼي او په خپلو چارو کښې په یو لوی هدف او مرام پسې روان شي....

تو نظر دغه ته، په اسلامي ټولنه کښې به څه ضرر ونه اقلیتونو ته ورسیږي شي؟... واقعي او آسماني ادیان هغه څیزونه غواړي چې اسلام ئې غواړي. او هم د اسلام په شان د بشر روحي پاکوالی ته هڅه کوي او ددې لپاره چې یو لوړې مرتبې او خدائي او پوړنه مقام ته ئې ورسوي راغلي دي...

اخوان المسلمین هم داراز غواړي چې د اسلام قوله نوې چې څموږ لوی هیواد دی، دهر ډول استعمار له قیده څخه خوشې شي.

البته د اسلام له نظره د هر هیواد د خلکو وظیفه ده چې خپله ځمکه له دغه استعمار څخه وساتي. او په دغه کار کښې یوله بل سره مرسته وکړي.

او مونږ نه پوهیږو چې څموږ دا غوښتنې د هغو کسانو د پاره چې د (ناسیونالیسم) د قومیت غوښتونکی دی څه تاوان لري؟ په دې حال کښې چې اسلام د ناسیونالیزم ټول لوړ او انساني هدفونه او مرامونه



Marfat.com

برسېره، په هغو عالي انساني مرامونو چه په ناسيوناليزم کښې نغښته موجوده وي او په ډوندانه کښې تحقق ورکوي، نو بيا هم دا پوښتنه منځ ته راځي چه دا کار ناسيوناليستونو او اقليتونو ته څه ضرر او تاوان لري؟ په داسې حال کښې چه اسلام د ټولو ټولنو د آزادۍ لپاره هر ډول استعمار په مقابل کښې مبارزه او ښندنه کوي.

له دې څخه ډېر تعجب ور هغه موضوع ده چه په هغې کښې ډېر بې خبره خلک د اخوان المسلمينو په باره کښې په اشتباه کښې لويدلي دي!

هغوی وائي: څرنګه چه اخوان المسلمين د اسلامي او په اصطلاح کښې دينو مذهبي حکومت غوښتونکي دي، نو په حقيقت کښې غواړي داسې يو حکومت منځ ته راشي چه د قاهرې او د الازهر علماء، د خلکو د ژوندانه په چارو او احوالو کښې دخالت وکړي! او حال دا دی چه اخوان المسلمين هيڅ وخت داسې يوه ادعا نه ده کړې.

اخوان المسلمين د يو اسلامي حکومت، يعنې د اسلامي شريعت او قانون د اجرا کېدلو غوښتونکي دي، او د اسلامي ډېر ښه قانون او شريعت اجرا کول، دې خبرې ته اړتيا نلري چه يوه مخصوصه ډله د هغه واکي په لاس کښې ونيسي، او اصولاً په اسلام کښې يو خاص ديني هيئت، يعنې د مسيحيت په شان مخصوص روحاني پلرونه وجود نلري



Marfat.com

چه قول کار هونه په لاس کښې ونيسي، بلکه کومه ورځ چه د اسلام اصول او قوانين «اجرا» شول په هماغه ورځ کښې - اسلامي حکومت جوړ شوی دی، بې له دې څخه چه يوې مخصوصې ډلې ته کوم خاص فکر شوی وی...

له دې څخه پوره ته، د اخوان المسلمين د ډلې تشکيل څېلله شاهد دی چه د اخبره داسې نه ده، چه ځينې خلک ګمان کوی، هو! د اخوان المسلمينو په تشکيلاتو کښې تول طبقات، د وګړو تول آزاد افراد د ټولنې علاقمندو او مشغولېتونو خاوندان ګډون لري، او څرنګه چه د اتشکيلات د مختلفو افرادو څخه جوړ شوی دی، نو په واقع کښې ديو دينې هيئت جوړېدل، په هغه ډول چه په اړوند او يا نورو ځايونو کښې شته اصولاً جريان نلری او نظر دې ته په دې باره کښې داسې تلقي کول او غږ پورته کول چه ګويا اسلامي حکومت هماغه د روحاني پلرونو حکومت دی! بې د خلکو د ګمراه کولو او د افکارو د خرابولو څخه، بل مطلب او هدف نلري، او د اپرو پا حقيقت سره يو ډېر جزئي ارتباط هم نلري.

د اخوان المسلمينو ليار او تمدن يوه رهبنانه ليار او نبکاره عمل دی، په دې ليار کښې يو ډېر وړوکی کوږوالی او پټوالی نشته، مګر له بده مرغه د اسلام له حقيقت څخه بې خبري او ناپوهي، د دې خبرې باعث



Marfat.com

اوسبب کړ څُبدلی دی چه، بوه ډله ګمراه او دفاسد غرض خاوندان،

دا ارزد ړوغي قصې اوچټي خبري خپري کړي او په پوره تأسف سره

حتی په اسلامي خاوره کښې هم بوه ډله په اشتباه اوسوداګښې وغورځوي.

رښتیا او انصاف دا ایجابوي چه ووایو: داخوان المسلمینولیاره

او تمدن دا سې لیاره او تمدن دی، چه په هغه کښې یو عالی نهضت

پرته له تعصبه مینډل کېدی شي - او هغه خلک چه د دغې لیارې په ضد

توطئه جوړوي، پخپله متعصب او مغرض خلک دی یا دو مره جاهلان

او ناپوه دی چه پخپله هم نه پوهېږي چه څه وائی او څه غواړي؟



Marfat.com

# د اسلام تر بيرغ لاندې

د مصر اجتماعي ډلو او حزبونو خپل پروګرامونه کوم چه د معاصرو اجتماعي بنو د غوښتنو له مخې جوړ کړي وو خپاره کړل او «اخوان المسلمينو» هم خپل هغه پروګرامونه چه له اسلامي اصولو څخه اخيستل شوي وو اعلام کړل، او په دې ډول د هغو چټي او پرديو پروګرامونو او د دغو قيمتدارو، ساده ؤ، سپېڅلو او منتخبو پروګرامونو، چه روښانه او ځلانده سابقه لري او ګړوته د ترقۍ او مخکښۍ تګ ښودنه کوي خلکو ته د دغو دواړو پروګرامونو ترمنځ توپير او بېلتون روښانه او څرګند شو.

ډېره موده کېږي چه موږ خلکو ته وايو: د اسلام قيمتدار او ټينګ اصول او مبادي - له ټولو مبادیو او اصولو څخه کوم چه بشريت پېژندلي دي - سابقه لرونکي او مترقي دي. او له هرې بلې وسيلې او اجتماعي طرز العمل څخه لوړ، قدرت او لوړوالی ډېر دی او د ژوند او انسانيت له لحاظه په نورو ټولو تعليماتو او قوانينو باندې لوړوالی لري.



Marfat.com

ډېره موده کېږي چه موږ خلکو ته وايو، کوم افراد چه اسلام ته دعوت ورکوي، لکه او به ورکړي شوي فولاد په شان، ټينګ او کلک او قوتمند وي، چه هېڅکله سستي نه قبلوي او د مشکلاتو او سختيو سره مقابل کېږي! ډېر مقاومت او ټينګار لري، او د چارو په تنظيم او اداره کولو کېږي، ډېر همت او بشپړ اراده په کار اچوي، او دا ځکه چه دوی د پاک زړه او وجدان په لرلو سره سالم کېږي او د دوی دین دعوت سا تندوی دی، او د دوی هدایت او لیاره میندل د قرآن په ذمه او د ناسره کېږي: «ان هذا القران یهدی للتی هی اقوم» د اقرآن، بنود نه کوي دعوت لیاره او طرز العمل چه ډېر ټينګ او پوخ دی.

او اوس د دې خبرې لوري فرصت پیدا شویدی، چه د اسلام اجتماعي اصول او مبادي، په پوخه تفصیل او وضاحت سره وړاندې شي، تر څو د دعوت بنونو د پروګرامونو په مقابل کېږي چه خلک ځانته راغواړي خپل قیمت او اهمیت ښکاره کړي، او هغه حقایق چه موږ له ډېرې مودې څخه راپدېخوا خلکو ته ویلي دي، او بر سېره په هغو کسانو چه دعوت په سترګو باندې پردې نه وي او هغه ئې منلي دي، نورو ټولو خلکو ته هم ښکاره شي.



Marfat.com

د اسلام د لیارې بلونکي چه د بشپړې، او دهرې خواتصفیې غوښتونکي دي او غواړي چه دې تصفیه کښې د فاروق دورانیو او فسادونو ملګري او مړستونکي داخل وي (د استاد مطلب شاه فاروق ؤ) د دوی پخپله هیڅکله په یو ډېر کوچني جنایت او خیانت باندې لګړا او متهم نه وو، او له دې حقیقت څخه هیڅ انکار نشته. مګر باید په دې باندې وپوهېدی شي چه څرنګه عوامل د دې خبرې باعث او سبب ګرځېدلي دي چه د خیانت ګروالا سونه د تېرې او تورې دورې په شان په خپل خیانت کارۍ باندې بوخت دي او خپل کارته ئې ادامه ورکړې ده! ... ولې خیانت کار او مغلوب حزبونه د «تصفیې» په موضوع کښې مخالفت کوي، او د عفوې او اغماض غوښتونکي دي؟ ولې هغوی د عادلانه قصاص او جزا څخه، له پاکه او رښتیني، د مفسدینو په باره له په ځای علت څني، په هر مقام او رتبه کښې چه وو، او هره وظیفه ئې چه لرله او په هره اندازه پیسې او ثروت چه لري، طرفداري نکوي او د «تخفیف» او «ښښلو» غوښتونکي دي!.

د اسلام د لیارې د بلونکو او دعوت ورکوونکو روح؛ هیڅکله په ارستوکراسۍ او کاذب اشرافیت، او طبقاتي امتیاز تعـ



Marfat.com

نه شي کلکره کیدای، هغوی د مطلق مساوات غوښتونکي دي کوم
چه د حاکمي طبقي د څلوالی او باداړه قصبي له منځه وړي. او د
آمرانو، وزیرانو، نجیبانو او لویانو د پاره، بې د دې کم ولهٔ عمومي محکمو
ځخه کوم مخصوصه محکمه نه جوړوي، او دا اړ نه کسان د عامو وګړو
سره یو شان ګڼي. هغوی په پوره ډول سره غواړي چه ټول خلک
بې له هیڅ کوم امتیاز ځخه د معمولي او عمومي محکمو په مقابل
کښي ودرېږي او د تېولو په باره کښي ئې یو شان فیصلې او
تصمیمونه ونیول شي.

اسلام د حکومت د رئیس او د هغه د هیڅ یو ملګري او
مرستونکي لپاره یوه ځانګړیانه او امتیازي برخه په مال کښي، په قضاوت
کښي، او یا په یو بل شي او کارکښي نده ټاکلي او د هغوی حق د
عادي افرادو او عامو وګړو له حق سره برابر ګڼي.

او دا هغه اسلام دی چه موږ ئې غواړو او خلکو ته د هغه
په لوري بلنه کوو.

مګر د مصر حزبونه هیڅکله دا جرئت نلري چه داسي یوې
اند لیښني ته په خپلو نړیوالو او ماغزو کښي ځای ورکړي. او
دا ددې لپاره چه د مرهتوب روح لا ترا وسه پورې د دوی په روح



Marfat.com

او نړه کښې لیاړ او اغیزه کړې او دوی په موروثي توګه ! یو نسل په بل نسل پسې، د مرغوب په اساس باندې ! روزل شوي دي!

د اسلامي لیارې بلونکي او دعوت ورکوونکي د خلکو سره کومه مجامله او دول و دیپ نلري او د موجوده ؤ مشکلاتو په باره کښې خلک جوړ سبت او موافقي ته ورسره نه مجبوروی - ځکه چه هغوی منه پوهیږی چه په مصر کښې - او سني او موجوده مالکیت ناروا او حرام مالکیت دی .

( د غه مرغوب پرته له اسلام په ټولو جوامعو کښې، که شرقي دي که غربي، موجود دی او یوازې هغه وخت له منځه تلای شي چه په ټولو کښې اسلامي وجدان ټینګ شي او په ټولنو کښې اسلامي اخلاق او قانون تطبیق شي .. - مترجم )

داسې مالکیت دی چه د کرهنې او زراعتي ځمکو ځنې د ډیرې برخې د فاروق او د هغه د کورنۍ او د ملکروپه واک کښې سپارلی ده ! . او بیا هم نه پوهیږی چه دی ډلې - د اځکې او ملکونه د خپل عوږنیکه له ( کوره ) ندی راوړي، بلکه هغوئ د مصر د خلکو له لاس څخه نیولی او تالا کړې دی او د هغو لیار وځنی ئې چه شریعت او قانون هغه په رسمیت او مشروعیت ندی پیژندلی او نه پیژنی



Marfat.com

لاس ته راوستلي دي. او له دې کبله دولتي اداره ـ بزگره طبقه د مرتوب په ډول استعمال کړې ده دمحکوخاوندان او بزگران ئې له خپل مشروع حق څخه بې برخې او محروم کړي دي. او همدا سبب دی چه اخوان المسلمين دحکو د مالکيت د معلومولو، د مالک او اجارې په منځ کښې دروابطو دڅرنګوالي او کيفيت د معلومېدلو تقاضا کوي او د مزارعې دهغې طريقې د اجراکېدلو غوښتونکی دی چه د اسلامي مقرراتو او احکامو سره برابره او د اسلامي اجتماع د عدالت ضامن دی... هغوی دا عقيده لري چه دا ډول نقدي يا قرضي اجارې ـ خلک د پور د دروند پېټي لاندی راوستلي او په اجاره دارانو باندې له اندازې نه وتلي ظلم او زور د روا کښي او بايد چه تغير وموي.

---

داهغه خبره ده چه دخدای حزب ئې وائي: اوس دې وکتل شي چه نور خلک څه وائي!... هغوی دا وسنی فردي مالکيت په مقابل کښې پېته خوله نيولې ده ـ د دې لپاره چه خپل ځانونه ئې هم په خطر کښې دی، او د دې لپاره چه هغوی ـ پخپله د خلکو وينې ځبېنلي دی او د دې لپاره چه هغوی پخپله ـ داسي فئودالان دي چه اوسنی مصر غواړي د هغوی له بدبختي څخه خلاص شي او د نا آرامۍ او ځنګان او



Marfat.com

له اوږ دو مودو څخه ورو وروسته يو څه په هوسائۍ او راحت سره ساه باسي!

د اسلام د لیارې بلونکي او دعوت کوونکي وروسته تر دې د عوائدو د وضعيت د روښانه کيدلو او د دولتي کارګرو د حقوقو تر منځ او یاد کارګرو د حق الزحمو په منځ کښې د ډېر تو پیر او فرق له منځه وړلو غوښتنه کوي. هغوی غواړي چه د ژوندانه لږه اندازه وسائل د ټولو لپاره موجود شي او دا «د ژوندانه لږه اندازه وسائل» عبارت له کافي خوراک، ضروري پوښاک، د هستوګنې د پاره مستريح ځای، وړيا دوا او تعليم - او د ناروغۍ، ناتوانۍ، د زړېدلو، او بيکارۍ په وخت کښې د اجتماعي ضمانتونو څخه مستفيد کيدل دي. که چېرته د زکاة مال د دغه منظور د پاره بس نه وي، د اسلامي صالح دولت بايد د بلاايانونو باقي مالونه او نور باقي شتوالي او د راداخلي، او د عامه و او محتاجانو په مصالحو کښې ئې ولګوي او په کارئې واچوي... دا حق غوښتونکي او حق ويونکي دله همدا رنګه په شرکتونو کښې د بزګرو د غړيتوب او دوی په باره کښې د کارګرو د صحيحو قوانينو د تطبيق، او د کارګرو د اتحاديو د جوړولو د آزادۍ غوښتونکي دي.

مګر احزاب!.. هغوی په دې باره کښې شونډې نه ښوروي او



Marfat.com

ځانونه ئې غلی نیولی دی... دغه د پاره ؟ د دې لپاره چه هغوی حتی هغه حزب چه خپل ځان د اکثریت حزب او ملی حزب ګڼی په کوم وخت کښې چه مونږ د بزګرو حق د کارګرو په اندازه وغوښت، خپه او غمجن شول او د اکثرو سناتورانو او د جرګې د نمایندګانو د مخالفت سره چه د غوړه لو پوړی ئې ارتباط درلود، مخامخ شو. ځکه چه هغوی په دې باندې خوښ ندی چه د دوی نوکران او غلامان د بادارانو په مقابل کښې! سر ونه پورته کړی او یا کارګران وکولای شی چه د آزادو او عزتمندو افرادو په شان نوی ژوندون شروع کړی!

د اخوان المسلمینو د پروګرامونو قیمت او اهمیت د احزابو د بې قیمتو او مسخره ؤ پروګرامونو په مقابل کښې. هغه وخت سه روښانه او څرګند شو چه، مونږ پرته د اجتماعی او اقتصادی مسئلو څخه په انسانی پراخه ساحه او ډګر کښې هم، هم خپل پروګرام اعلام کړ...

د اسلام بلونکو او مفکرینو. د افرادو د اخلاقی سطحې لوړوالی او د بشری ارزښتونو او مقیاسونو د راندې تګ، په تولو بوخو کښې نده هیر کړی. د دې لپاره چه د دوی لیاره او طرز العمل. دعوت او مکتب تر دې ډېر لوړ او عالی دی چه د اقتصادی اصلاحاتو یا د هغو اجتماعی اصلاحاتو په چوکاټ کښې چه یواځې په اقتصاد پورې مربوط



Marfat.com

دی، بند پاتې شي. هغوی په اجتماعي اصلاحاتو کښې د ډېرې سابقې
او پوهې خاوندان دی، مګر د دغه کار سره یو ځای، د انسان په وضع
او استعداد باندې د باخبرې له کبله، د بشر ټولو اړخونو ته
توجه لري، ځکه هغوی له هغه قرآن څخه الهام اوخبر اخلي چې فرمائي:
«ولقد کرمنا بني آدم» بېشکه چې موږ د آدم (ع) اولاد ته عزت
او کرامت ببښلی دی - او دا عزت او کرامت، لې له دې څخه چې
انساني مقیاسونه په ټولو ځایونو کښې او د انسان اخلاقي لوړوالی په
حیوان باندې په مکمل صورت تحقق ومومي په بلې لیارې نشي
بشپړ کېدای. او له همدې کبله، هغوی د هر ډول فسا داو ورانئ
بدۍ او پستۍ سره، مبارزه کوي او د شروندانه په ټولو برخو کښې
چه سیاسي، قانوني او اقتصادي ټول اړخونه یې کښې شامل دی،
د «تصفیې» مطالبه کوي او بلکه دا «تصفیه»، او پاکوالی له هم
ځای نه پیل کښې، د انسان په ضمیر او زړه کښې لازم ګڼي...

---

د دغې وینا په پای کښې - دې ټکي ته اشاره کول ضروری
دی:
په تېرکال کښې چه د «تصفیې» لپاره په ورځ پاڅو کښې جمله



Marfat.com

[illegible] شو ! . اوما د «الدعوة» په مجلې کښې چه د
[illegible] دی او د «سوسیالیسم» په ورځپاڼی کښې
[illegible] یستانو خپرونه ده ، او د «پرچم جدید» په جریده
کښې چه په ملي ډلو پورې اړه لري - یو شمېر مقالې لیکلې - د یرو خلکو
ماته مراجعه او په دې برخه کښې ئې ځینې پوښتنې راتخه وکړې
او ما هغو ټولو ته داسې ځواب ورکړ چه :
ماخپله مقدسه مجاهده او جوړښت نه قبلوونکې مبارزه
د دغو جرائد و په مخونو کښې د یو بیرغ لاندې شروع کړه چه هغه :
داسلام بیرغ دی .

اسلام د اجتماعي عدالت د بسط او خپرولو په لیاره کښې
مبارزه کوی - لکه چه سوسیالیستان په دی لیاره کښې نښته
او مبارزه کوی .
او د ملي او سیاسي عدالت په ډګر کښې نښته کوی لکه چه
ملي طوائف په دې لیاره کښې مبارزې ته پاڅېدلی دی .
او د انساني عدالت په ډګر کښې هم داسې جنګېږی - لکه څرنګه
چه اخوان المسلمین ئې غواړي او د اجرائد او ورځپاڼی ځماد پاره
په حقیقت کښې د مبارزې او جګړې ډګر دی او زه که چیرته بې له



Marfat.com

دي ځني کوم وسيله مينده کړو. تر هغه ځايه پورې چه ممکن وي، له هغوی سره به همکارې او مرسته وکړو.

مادا اسلام ترلوی بيرغ لاندې خپله وړوکي نقشه عملي کړې. او دې نقشې ته مې په پوره احساس سره او د بو بيرغ په سيوري کښې: چه دعدالت دخپرولو دپاره دمبارزې بيرغ دی، او ددې مفکورې لپاره متعدد او رازرازمينې او ميدانونه لرئ ادامه ورکړې ده.

او په دې ټولو احوالو کښې، په حقيقت کښې دا اسلام په سيوري کښې او سيد لي يم او هم دا اسلام دی چه د ټولو آزادی بښونکو تمدنونو ملا تړ دی او د انساني مبارزې ټول ميدانونه معظم کړي او دانساني عزت دلوړوالي دپاره هر ډول دعوت لره شامل دی او د دائرې اولمنې د پراخوالي اود هدف ديو والي او د ايماني حرارت له لحاظ په ټولو مکتبونو باندې امتياز اولوړوالی لري.

نن ورځ - دزماني مړوړ او تېر بدل ددې مطلب ړښتيا والي او صدق ثابتوي او ټولونه دا خبره روښانه او ښکاره کوي، چه اسلام څرنګه دا ټول لوی هدفونه او ارمانونه له ځانه سره لري او څرنګه په ډېر کوښښ او جدّي ډول سره غواړي چه اسلامي هيواد د تېر کوونکو او ناولو، فرصت لټوونکو، سودخوړو اشغالګرو او استعمارګرو



Marfat.com

له منګولې او سلطې څخه خلاص شي ... او څرنګه اجتماعي عدالت او واقعي استقلال د هیواد د ټولو اوسېدونکو لپاره غواړي او په هر حال کښې څرنګه د انسان عزت او احترام غواړي .

---

د اسلام دعوت اولیاء، هماغه دعوت اولیاء ده چه پرونۍ او نننۍ او راتلونکې بشریت هغې ته اړتیا درلوده او لري ئې او وبه ئې لري.

که چیرته پاک خدای د برياليتوب لپاره احزابو ته ور وښیئ، او که چیرته د احزابو لپاره سبوونکې خپل نفوس او روح لوړ شانته له ناوړتوب څخه پاک کړي او سترګې ئې د هدایت په رڼا روښانې شي، هیڅ شک نشته چه د دغه مکتب په لوري به مخونه واړوي او د خدای تر بیرغ لاندې به سره ټول شي .

«والله یهدی من یشاء الی صراط مستقیم»(۱) او پاک خدای هر چا ته چه وغواړي د سمې لیارې هدایت فرمائي ...

(۱) البقرة - ۲۱۳



Marfat.com

# يوازې يوه لیار!

موږ مجبور یو چه خپل ځان ته یواځې یوه لیاره غوره کړو.

موږ په خپل بین المللی تګ کښې بې له دغې لیارې څخه بله لیاره په مخکښې نلرو او هغه کسان چه ګمان کوی موږ کولای شو چه په څو لیارو ولاړ شو او وړو وسته بیا له هغو څخه یوه لیاره ځانته غوره کړو، د زمانې په منطق او د واقعیت او د اوضاعو د طبعت په پوهېدلو کښې اشتباه کوی.

موږ مجبور یو چه ځان د پاره یو بېرغ خوښ کړو او د هغه تر سیوری لاندې، د هغو قوم سره چه د هغه په سیوری کښې دی په اتفاق یو له بل سره یو ل شو او هېڅ کله د انشو کولای چه په یواځې ډول او له نورو څخه بېل ژوند وکړو او یا د هغه نی اړ دو ګاه سره یو ځای شو چه د هغه وخت تېر شوی او د پخوا پېړی په موزیم خانه کښې ایښودل شوی دی!



Marfat.com

ځوونږ په عقیده د منطقوي ناسیونالیسم وخت تېرشوی
او دا دوه اند پښتنې ، یوازې دهغې ډلې په فکرونو او زړونو کښې
پیدا کیږي چه دزمانې له منطق او روح او دهغې له مقتضیاتو
څخه خبر نه دي .

نړۍ په دوو لویو او ښکاره ډوله دوو ګاهو وېشلې شوېده
او دریم بلوک هم غوښتنه چه تشکیل شي ، مګر څنګه چه یو صحیح او
پوخ اساس ئې تعقیب نکړ ، نوله دې کبله موجود نشو ، او یا دا چه
سم او صحیح اساس ئې پیدا نکړ ، مګر د عملي کولو په برخه کښې ئې
خپل ځان ورځنې ګوښه کړ او نتیجې ته ونه رسېد .

دوه مشهوره ډوله دوګاه ، د ختیځ بلاک او د لویدیځ بلاک دي .
لمړني بلاک دیوې عقیدې او طرز فکر په اساس باندې ټینګ دی .
او دوهم بلاک بې د « استعمار » څخه بل اساس او مقصد نلري ، مګر
دا دوه بلوکونه او اتحادیې د واره ځوونږ په ضد باندې جنګیږي او دواړه
د دې قربانۍ له منځه وړلو د پاره ، چه موږ او سو ، یوله بل سره په نښته پاڅېدلي
دي او دواړه دا کوښښ کوي چه موږ یو ځای او ذلیل لپاره لاس ته راولي
او په خپله خېټه کښې موهضم کړي ! او د دې لپاره چه دوی وکولای شي
دا قرباني په آسانۍ سره وخوري ، دا ضرور دی چه موږ یوه ځانګړې دوګاه



Marfat.com

ونلرو او د رېمي اتحادي له جوړېدلو څخه غښتلي وشي او مونږ لکه چه اوس يو، همداسې د تل لپاره د وړو او ناتوانو دولتونو په تشکل پاتې شو او هم يو لکه د قصرجنۍ پيشوغوندي ؛ د لوېي او متوکي کوونکي ناسيونا ليسم تر بيرغ لاندې داسې بنه او قيافه ولرو چه دوي راپورې وخاندي.

نو هغه کسان چه څوک مونږ په منځ کښې خلک د عربي محدود او وړو ناسيونا ليسم د شړوندي کولو خواته راغواړي، په واقع کښې هغوي يو اځي د دې لپاره کوښښ کوي چه زموږ گرفتاري، د ختيځ او يالو بديځ يو له دغو دواړو بلاکونو په منګولو کښې آسانه شي. مگر مونږ خلک په دې موضوع کښې يوه خاصه نظريه لرو، مونږ خلک، نه غواړو چه د دوي قرباني شو او له هغه کبله، تول هغه وړوکي او کمزوري بنوونځي چه څوک مزدوري کړې شوي او څوک غولېدلي دي او د ختيځ يالو بديځ استعمار لپاره، په دغه لپاره کښې کوښښ کوي له ځانه لېرې کوو او وړ ته وايو :

موږ بنه پوهېږو چه د مختلفو او راښزانه لپاره په خوښو لو کښې آزاد او بخپل سر نه يو، بلکه موږ يوازې يوه لپاره په مخکښې لرو او هغه داده چه بخپله يوه ځانته او د رېمه اتحاديه جوړه کړو چه د ختيځې او يالو بديځې اتحادي له څخونو د هيځ يو په تاو بدلولو پورې اړه



Marfat.com

ونه لري، ځکه چه ختيځ او لويديځ دواړه ځمونږ دله منځه وړلو لپاره د پلمو په جوړلو او په دې لپاره کښې يو له بل سره په مرسته کولو باندې بوخت دي.

رښتيا څوک به په مونږ کښې پيدا شي چه په ښکاره ټوګه دا اعتراف وکړي چه دهغو دوو بلاکونو څخه نه به دهغو د مبارزې په کمه چه زمونږ د فنا لپاره ئې کوي و د رېږي؟ او څوک له مونږ څخه کولای شي په ځانګړې سره ووائي چه دي غواړي د دوو اتحاديو ځنې له يوې سره مرسته وکړي او دهغې دپاره بري وغواړي تر څو چه مونږ له منځه يوسي؟

خما په نظر کښې به دا ډېر ښه وي چه د دواړو اتحاديو وضعې چه زمونږ سره ئې لري وڅېړو.

## لويديځه اتحاديه:

آيا څوک له مونږ ځنې، په مصر يا له عربي او اسلامي هيوادو ځنې په کوم يو بل هيواد کښې، داکولای شي چه مونږ په استعماري کشش او دوګاديو ړې ملحق کړي هغه چه مونږ په مصر، ليبيا، تونس، مراکش، الجزائر، سومالي، اريتريا، سنګال، فلسطين، سوريه، لبنان، عراق، اردن، يمن، حجاز کښې زمونږ نفس دهغه تر فشار لاندې خپجي او دهغه د پښو لاندې محو کېږو.



Marfat.com

دا هیوادونه تول اسلامی خاوري دي او دلوېدیځ استعمار د ټیټو منافعو دپاره، چه دهغه تول غړي ځمونږ په ضد باندې یوله بل سره مرسته لري، په ځنځیر تړل شویدي او ددغو هیوادونو په هرځای کښي چه د استعمار او پردیو اشغالګرو په مقابل کښي ملي مبارزه شروع شویده، دلوېدیځ نورو استعماري هیوادونو خپلو ملګرو سره مرسته کړي او ځمونږ ملتونو ته ئې تهدید او سرزنش ورکړیدی.

دانګلستان، فرانسې، ایټالیې او هالند استعمار، په اسلامي خاورو کښي، دآزادي بښونکو حرکتو په محوکولو کښي یوا ځې اقدام نکوي، بلکه دامریکې او دهغه د ډالرونو، ټانکونو او الوتکو په مرسته او دهغې د بین المللي نفوذ په ملتیا دمسلمانو تولنو په مقابل کښي ودرېږي، او دا هغه حقیقت دی چه مونږ خلک ور باندې ښه پوهېدلي یو، که څه هم دامریکي تبلیغاتي قواوې په ختیځ کښي کوښښ لري چه مونږ وغولوي تر څو مونږ ددغه حقیقت څخه پټې سترګې تېرشو.

خو مره پوخ او ماهر دی هغه څوک چه کوښښ کوي مونږ ددغه استعماري اتحادیه په شرخ پوري وتړي ؟ تر څو چه په لکونو خپل رهبري لي ځوانان هغه ته ورو سپارو او له دغو څخه دفاع نو او ذخیره وي جنګي



Marfat.com

وسلو په څېر، استفادي وکړې او هغوی د هغه دښمن د پرله پسي سېلاب او توپو او ټانکو په مخ کښې ولېږی چه غواړی ور باندی بری ومومي او ور وسته بيا خپل استعماری نفوذ او قوت هم په موږ کښې ټينګ کړي.

هو! هر څوک چه په دې توطئه کښې شرکت کوی، که هر څومره زور او قدرت هم ولري، په پای کښې به د دغو قومونو په ذريعه خپله جزا وګوری . . .

هغه ملتونه چه نور د استعمار د حکومت توان او تحمل نلری، او د استعمار د بنو او نومونو کړکېچول او بدلول هم دوی نشي غولولای، او د استعمار ګرو د نومونو اړول او د هغوی نقشې هم نشي کولای چه دوی له هغو حرکتونو او غضنونو څخه چه اوس ور نصيب شوي دي محروم او پښېمانه کړي، ځکه چه هغوی دې ته چمتو شويدی چه د آزادۍ په لياره کښې هر ډول قرباني ورکړي او هر ډول تجربې ته ور ودانګي.

هيڅ کله! هيڅوک، د هر مقام خښتن چه وي، نه شي کولای او حق نلري چه په دليل، پيسو، د توري په څېر او زور باندی، موږ د لويديځ استعمار ښکېلو ته پوره وتړي، او د هغو مزدورانو شهر، چه غواړي څموږ قومونو ته بې حسه کړي، که هر څومره دبدبه وي، بيا به هم ورته ممکنه نشي چه موږ د لويديځ امپرياليسم لپاره د ګاه پوري وتړي، ځکه چه زموږ قومونو نور وپېژندل شويدی او د هغه چاجرابه ورکړي چه دوی بيده کړي.



Marfat.com

## دختيځ اتحاديه:

يوه ډله هغو کسانو څخه چه غواړي مونږ د غربي امپرياليسم منګولو څخه په هر وسيله چه وي خلاص شو، د شرقي اتحادي خواته ځغاسته اروي، مګر مونږ په دغه لويه خاوره کښي، داوضع هم په شدت سره رد کوو.

مونږ نه غواړو چه دخپلي خاوري آزادي، دخپل روح د مرتبوب په قيمت باندي لاس ته راولو- مونږ نه غواړو چه خپله عقيده او طرز دفکر په ډېر لپاره خرځ کړو، په داسي حال کښي چه مونږ د آزادي او خلاصي ميندلو لپاره بله لياره لرو.

څومونږ په خاوره کښي هيڅکله داسي مسلمان نه پيداکيږي چه دکمونيسم مسلک ومني تر څو کمونيسم، د مسلمان او يا د بلي هري مذهبي عقيدي خاوند چه وي، سره تکوي او له منځه ئي يوسي لکه چه په شوروي، کمونستي چين، ختيځ او لويديځ ترکستان کښي ئي له منځه وړيدي.

څومونږ په سپيڅلو خاوره کښي دکمونيسم طرفدار ان يوه لږه ډله ده او هر څومره چه کوښښ هم وکړي او يامرسته ومومي، هلته غسي به په اقليت کښي پاته شي، ددي لپاره چه دکمونيسم مذهب څومونږ په نظر يو غير طبيعي مذهب دي او څنګه چه مونږ وړته هيڅ ډول ارتيا نلرو، نو څومونږ خاوره به دهغه دنړيوالي او ترقي دپاره مساعده نه وي.



Marfat.com

موږ بچیله د داسي یو اجتماعي مذهب او ښوونځي غښتنه یو چه
د قدرت، عدالت، د انساني احترام او په او س وخت کښي څموږ د اړتیا وو
او د ټول بشریت د اړتیاوو د لري کولو له حیثیته ځني د ماتړ یا لیسم په
ښوونځي باندي چه کمونیسم د هغه پر پایي ولاړ دی، تفوق او حکوالي لري،
او له همدغه کبله، د کمونیسم غوښتونکی به هیڅ رنګه په اقلیت کښي پاتي
شي ځکه چه هغوی د داسي مذهب او ښوونځي تبلیغ کوی چه څموږ
په هیواد و کښي پېږدي دی. . داسي ښوونځي او مذهب چه هیڅ
ډول اړتیا هغه نه لرو او هیڅ ډول ضرورت هم نشته چه د هغه
وجود ایجاب کړي، او البته اجتماعي ښوونځي یوازي په هغې تو لني
کښي پیدا کیدلای شي چه د پید اکید لو ضرورت او اړتیا د هغو
ایجاب او غوښتنه وکړي .
برسیره پر دې باندې، موږ دا نه غواړو چه د تصفیې
او د وژلو ځایونو ته چه په کمونستي هیوادونو کښي د مذهبي عقیدو
د خاوند انو لپاره موجود دی، راو بلل شو، موږ دا غواړو چه ژوندي
او سو، تر څو هغه چارې او انساني وظیفي چه په غاړه لرو عملي کړو!
موږ د کمونیسم په مقتل کښي د وژلو او قربانۍ مینه نه لرو! ۰۰
رمنا سفانه سید قطب په یو اسلامي مملکت کښي چه د کمونستي



Marfat.com

سیوری پری پروت و، بیا تر لہ کومی گناہ څخہ پہ دا روزہ ول شو. گواکی دہ فکر نہ کاوہ چہ مسلمان بہ د دہ سرہ دغہ رویہ وکړي) "مترجم"

نو لہ دغہ کبلہ، موږ بې لہ دې څخہ چہ چېلہ ځانتہ یوہ دریمہ اړ دوگاہ منځ تہ راولو بلہ چارہ او لیاره نلرو، موږ نشو کولای چہ هغہ منطقوی او متروک ناسیونالیسم یا دعربي محدود ناسیونالیسم پہ چوکاټ کښي، پہ یواځې ډول ژوندوکړو، او همدا رنگہ موږ نشو کولای چہ لہ دغو دوو اتحادیو څخہ پہ یوې پورې ونښلو چہ دوا ړہ یولہ بلہ سرہ ځموږ دچپاولو او ورکولو د پارہ نښتي او جنگونہ لري، او هرہ یوہ غواړي چہ ژر تر ژره لاس و موږ او موږ غونډ و تہ پہ خپلي خېټي کښي ځای ورکړي! ... نو موږ بې لہ دریمې لیاري څخہ، بلہ لیاره پہ مخکښي نلرو او پہ واقع کښي خپل ژوند تہ د دوام ورکولو د پارہ یواځې یوہ لیاره غوره کولی شو، او بنائي چہ دعربي او منطقوی تنگ او متروک ناسیونالیسم لیاره نیونکی او سانونکی، د دوی پہ خپل حال پرېږدو تر څو چہ دخوانیو پېړیو پہ چټي خیالونو باندی خوښ اوسی. او د اننولسمی او نولسمې پېړی او هام هغوی خوشحال وکړی. ځکہ داسي کسان چہ د نړۍ او څوانیو خرافاتو سرہ مشغولیت لري. ډیر دی! ...



Marfat.com

البته ځنیځی او لویدیځې اتحادیې، دوارړه سره یوځای او په یو شان، داخبره سنه کړي چه موږ دیو طبیعي او مستقل بیرغ لاندې تول شو، او د دغه کار په مخنیوي کښې دوارړه سره یوځای د نام د اټو او بې انصافانه وسایلو څخه چه ئې لري ځمونږ په مقابل کښې کار اخلي او له هر غه کبله ځمونږ لیاره کیږي وي ترڅو چه د طبیعي یو بیرغ لاندې لاړ نشو او په اسلامي لویو هیوادونو کښې چه له شپږ سوو ملیونو مسلمانو څخه زیات وګړي لري دیو والي او وحدت موضوع هېره شي زموږ لیاره ناڅاپه کړیږي او له دې لیاره ې څخه، یو مصنوعي او جعلي بیرغ سیوري تر لاندې تشکیلیږي چه په هغه باندې «آسیائی بلوک، افریقائی بلوک» نوم ایښی دی، او په دغه فرضي دریم بلوک کښې، دوه لوي او مهم غړي، هند او پاکستان په کشمیر باندې یو له بله سره لښتنه لري.

په سلو کښې سل داخبره د شک وړ ده چه په دې ډول سره چه د هغه دوه لوي غړي پخپل منځ کښې سره کلکه دښمني لري څرنګه کیدای شي چه دریم بلوک جوړ کړای شي! ...

شک نشته چه دا اتحادیه غیر طبیعي ده، مګر د دښمن دواړه اتحادیې موږ د هغې خوانه ځغلوي ترڅو چه موږ د خپلې طبیعي



Marfat.com

اردوګاه او اتحادیې له جوړولو څخه وګرځوی، داسې اردوګاه چې
یوه عقیده، یو تاریخ، یو مصلحت او هدف د جغرافیائی او اقتصادي
یو موقعیت، د هغې اجزاء سره تړی او یو ځای کوی، او په هغې کښې
دیوې مستقلې اتحادیې د جوړېدو ټول عوامل بې له هېڅ ډول
استثنا څخې موجود دی.

مګر باید پوښتنه وشی چې ختیځ او لوېدیځ ولې د دغې
اتحادیې د پیداکولو مخالف دی؟ د دې لپاره چې د دغې اتحادیې
تشکیل په خپل طبیعي اساس باندې، په حقیقت کښې به د ختیځ
او لوېدیځ دواړو د مادی مصلحتو او ګټو په خلاف وی.

هغه دلیل اوېلم چې په ټولو اسلامی هیوادونو کښې د دغې
طبیعي اتحادیې د جوړولو د اصلي مانع او غټ مشکل په نامه کله
کله غوږته رسېږی، په اسلامی هیوادونو کښې د غیراسلامی
اقلیتونو وجود دی.

رښتیا چې دا خبره د ډېر تعجب او حیرانتیا وړ ده! ...
لکه چې دا اقلیتونه اوس او په ناخاپه ډول سره پیدا شوی دی، آیا
دوی په دې لویه خاوره کښې پوره څورلس سوه پېړۍ په هوسائی
ژوند نه دی کړی؟ ... موږ او ټول خلک باید اعتراف وکړو چې



Marfat.com

په هیڅ یو بل هیواد کښې اقلیتونه تر دې اندازې پورې په آزادۍ او هوسائۍ سره د خپل ژوند څخه ندي برخوردار شوي.

په واقع کښې دا یوه لویه فتنه او فساد دی چه دوی غواړي ځموږ په هیواد و نو کښې پیدا کړي، او داځکه چه په خپل مقابل کښې ئې یو نزدیک او زوړ آورمتعصب ندی لیدلی. البته یواځې نن ورځ دا خبره ده، بلکه په ټول تاریخ او خصوصاً په هغه وخت کښې چه په ټولو ځایونو کښې اسلام حکومت کاوه اقلیتونه له خپلو انساني حقوقو څخه ګټور او مستفید شویدي، او ځموږ په نظر کښې په ټوله نړۍ کښې کوم عدالت چه ټولو خلکو د واقعي اسلام په هیواد کښې لیدلی، په هیڅ ځای کښې او په هیڅ هیواد کښې ئې ندی لیدلی.

د اقلیتونو خبره مځ ته راوستل، بې له بلې څخه بل شی ندی، دا خبره د تاریخ د منطق او د زماني د مقتضیاتو په مقابل کښې کوم اهمیّت او معنی نلري، او موږ هم د خپلې واقعي او بشپړ استقلال او آزادۍ لپاره بې د دې یې اتحاد له جوړولو څخه د هغې په خاص مفهوم سره، هیڅ لیاره په مخکښې نلرو او بېشکه چه دا به ځموږ او د ټولې نړۍ په ګټه وي



Marfat.com

چه وخت ضايع نکړو او په چټکۍ ويناوو او خوشې خبرو پسې ونکرځو، او د طبيعي اوضاعو د طبيعت او د زماني د منطق او دليل سره په مخالفت لاس پورې نکړو او خپله سمه لياره او سمه رفتار ترڅه ترڅه وتړو ته وټاکو.



Marfat.com

# لویدیځ اسلام

په دې وختو کښې غربیان بیا د اسلام په فکر کښې لویدلی دی، هغوی نن ورځ «اسلام» ته د دې لپاره ارتیا لري چه په منځنی ختیځ او د آسیا او افریقې په اسلامي خاوره وکښې له کمونیزم سره وجنګیږي ! .

هو مسیحي غربیان، وروسته تر دې چه د صلیبي جنګو نوله دوره ې څخه نهه (۹) پیړۍ بلکه زیاتره موده ئې د اسلام سره جګړه کړېده نن ورځ دا احساس کوي چه اسلام ته اړ دي.

هغوی نن ورځ اسلام ته اړاو محتاج دي، لکه څرنګه چه د المان، ایټالیې او جاپان دخلکو مرستې ته محتاج دي او حال دا چه په تیر عمومي جنګ کښې ئې د هغوی هیواد ونه وران او له خاورو سره ئې یوشان کړل !

مګر نن ورځ په ټولو قواؤ سره کوښښ کوي چه هغوی بیا له سره په پښو ودروي او چمتوئې وساتي، ترڅو چه د دوی د



Marfat.com

کټی د پاره د کمونیسم د هیبت ناکې قوې په مقابل کښې ودریدلای شي ! ( او شک نشته که چیرته سبا ته لازم وګڼې، بیا به له سره دهغوی د وړانولو د پاره کوښښ وکړې ! )

البته کوم اسلام چه استعمارګرغربیان او دهغوی ملګری په منځنې ختیځ کښې ! دهغه غوښتونکی دی، هماغه اسلام ندی چه له استعمار سره جنګیږی او دهواپرستی اوخود خواهی سره نښته کوی، بلکه یواځې هغه « اسلام » دی چه له کمونیسم سره مبارزه کوی ! .

هغوی دا نه غواړې چه په رښتیا سره دی، اسلام حکومت وکړې او هیڅکله د دې خبرې دتحمل توان هم نلری چه اسلام دې، حکومت په لاس کښې ونیسی، او داځکه چه اسلام که چیرته حکومت په لاس واخلی، ملتونه له سره جوړوی، د ټولنو په منځ کښې انقلاب او تبدل پیدا کوی او بیا ورسته له دې ځخه په دغه وخت کښې، د نړۍ ټول ملتونه او قومونه په دې خبره باندې پوهوی چه، د امپریالیسم او استعمار په مقابل کښې د قواوو ځمتوکول او تیارول یوه دینی وظیفه او وجیبه ده او د استعمارګروشړل او ورکول یوه مذهبی فریضه ده او کمونیسم هم د استعمار په شان یوه خطرناکه



Marfat.com

دحرفړي ديني کسانو هغه ډله، چه د دوی کار د و ځینو اوضاعو ته
کتل دی، د اسلام او کمونیسم د مقایسې د پاره پاڅیږی او
په دې برخه کښی اوږده او مفصل بحثونه خپروی!

مګر د هغه اسلام په باره کښی چه د غربی امپریالیسم سره
د کمونیسم په شان جنګیږی او د دواړو د ښمنو په منځ کښی کوم فرق
نه کوی، د دې بنا غلی ډلې ځنې يو هم له هغه ځخه یادونه نه کوی،
او بیا هیڅ یو له دوی ځنې د هغه اسلام په باره کښی چه، د خلکو
د اجتماعی ژوند اند په شئونا تو او احوالو باندې حکومت وکړی
او په هغه کښی جامع الاطراف تحول او تغییر پیدا کړی -
نه غږیږی.

موږ ګورو چه د توالد او تناسل د مخنیوی، ښځه او
پارلمان ته ملوځ او روژه په قطبی منطقی کښی، او د او دا سمانونو
ځیزونو په باره کښی، د «اسلام» د نظریې پوښتنه کوی!
او د الازهر د فتوې ورکولو شوراهم د هغو ځوابونه وائی، مګر
له هغه اسلام ځخه چه د اجتماعی، اقتصادی او مالی سیستم
په مسائلو کښی دخالت کوی، هیڅ یوه پوښتنه منځ ته نه راځی
او هیڅ کله د اسلام نظریه د سیاسی اوضاعو او قومیت او



Marfat.com

ناسیونالیسم او له استعمار سره څمونږ د هیوادونو د پېښو او ښکاره او رو ابطو په موضوع کښې د پلټنې او توجه مورد نه گرځي .

په اسلام کښې د دیموکراسي ، په اسلام کښې د ښځې او عدالت په باره کښې ، د کتاب او مقالې لیکلو اجازه شته مگر د اسلامي حکومت ، د اسلام د قانون او د اسلام د بریالیتوب او د دې په شان د نورو مسائلو په باره کښې ، هیڅ کله دې کوم کتاب یا کومه مقاله و نه لیکله شي او له هغو څخه دې هیڅ کله کومه خبره منځ ته رانشي او نه دې کومه فتوه ورغوبښتله شي .

---

په دې نږ دې وختو کښې « لو بدیځ اسلام » پوهیدلی چه په اسلام کښې یوه موضوع ده چه هغه ته « زکات » وائي او بیا هماغه لو بدیځ اسلام احساس کړ چه کیدی شي چه کله چېرته د دغه زکات د ورکولو موضوع بیا له سره ژوندی او عملي شي - ممکنه ده د کمونیسم د وړاندې تګ مخه ونیسي او له هغې کبله مونږ گورو چه « د اجتماعي چارو څېړونکي » او « د اوقافو څانګې » د پېښې له خوا منځ ته راغلي تر څو چه د « زکات » د قصې او « په اسلام کښې اجتماعي تکامل » د مسئلې په خصوص کښې غور



Marfat.com

او پلټنه وکړي !

هو، هر کله چه غرب وپوهېده چه د اسلام د زکات قانون د بېوزلو خلکو دفتر او نیستي مخه نیولی شي نا څاپه «د اجتماعي چارو څېړونکي» جوړ شول او د اسلام د اجتماعي تعاون او د زکات مسئلې ئې تر بحث او غور لاندې ونیوله.

اوله دې کبله چه د دغه هیئت د بر سېرو ځینو غرب ولاړو، په مصر کښې د قوم مشرانو ونکړی شو چه د دغې موضوع د مطرح کېدلو په مقابل کښې په مخالفت ودرېږي. لکه چه د «عبد الحمید ابن عبد الحق» په مقابل کښې په هغو خوړ کښې چه د اجتماعي چارو وزیرو ودرېدل، او دا ځکه چه حُمونږ د ټبرا وقوم مشران کولای شي چه د زکوة د هغه قانون په موضوع کښې چه د خدای امراو فرمان دی، پلمې او مشکلات جوړ کړي، مګر که چېرته کوم وخت غرب د هغه عملي کېدل وغواړي بېشکه چه د هغه په مخ کښې بې دغاړې ایښودلو او اطاعت څخه کومه بله لیار نلري !! . . .

او همدا سبب و چه په مصر کښې یوهیئت، چه د قاهرې د پوهنتون د اسلامي فقهې له استاذانو او د الازهر د علماؤ او



Marfat.com

د «پاشا» خیلوله ځینو افرادو څخه مرکب وُجوړ شو، ترڅو چه د اسلام
د اجتماعي تکافل او تعاون مسئله او خصوصاً د زکوة په موضوع
کښې غور او هغه د پلټنې مورد وګرځوي او البته چه د دوی دا کار
په دې نیت دی چه د خدای په لپاره کښې او د هیواد په لپاره کښې
یو خدمت ترسره کړي بلکه د دې لپاره دی چه «غرب» او په هغه
پورې تړلې «د اجتماعي چارو ټولنې» داسې اراده کړې ده.

په دغه ځای کښې خطر احساس شو، که چیرته غربیان
د اجتماعي تکافل او تعاون حقیقت، چه د اسلام په نظر کښې دی،
مینده کړي. هغه په منځنۍ ختیځ کښې عملي کوي، چه هغوی به د کمونیسم
سره د مبارزې د پاره په ختیځ کښې هیڅ کله له اسلام څخه قوي او ټینګ
سد مینده نکړي. او له بلې خوا اجتماعي تعاون او تکافل په اسلام
کښې، د ټولو وګړو په ثروت او شتمنۍ کښې یو خاص نظر او توجه
لري او د ثروت د غلې بدلو اجازه نه ورکوي او ټولو ته د ژوندانه
په حقوقو باندې قائل دی او دا طرز العمل او وضعیت به بې له
شکه د قوم د لویانو په ګټه هم نه وي! نوله دغه کبله، باید دا موضوع
په معکوس ډول سره «غرب» ته وښودله شي او د دغه کار د پاره
هیڅ بله لیار او چاره نشته بې له دې څخه چه د اسلامي متونو او



Marfat.com

نصوصو په تفسیر کښې له چېلو او پلموځنې کار واخلي او هغه پېټې چه اسلام د بېلا بېلو او مال الله هدیه اوږ وباندې ږدي، سپک کړي او د «اجتماعي چارو څېړونکی» له خپل کوښښ او څېړنو ځنې مطلوبه نتیجه واخلي او پوځې دومره قدرته وکړي چه یو ډېر لږ شي مثلاً د سلو څخه یوه برخه ورکړي تر څو چه د قوم د لویانو مالوا و دولتونه نقصان ونه رسیږي! ...

البته که چېرته دا کار، د خدای او د دین کار وای، نو خبره آسانه وه، مگر له بده مرغه چه دا کار او طریقه، د غرب طریقه ده او دي کېبله هغه شي چه اسلام مقرر کړي، له هغه شي سره چه د «اجتماعي چارو څېړونکو» اجرا کړي دي هیڅ مناسبت نلري، بلکه هر یو له دي دواړو ځنې بېل شی او جلا کار دی. د اجتماعي چارو څېړونکو په دي برخه کښې، د اسلامي حقیقت سره او حکمت ندی درک کړی او یا ئې نه غوښتل چه پېږي پوه شي او که چېرته پوهېدلی وای - نو د هغه اجرا به ئې په مسلمانو وکړه و باندې لازمه کڼله.

یوه ډله د دغه هیئت له اعضاوو ځنې، چه د غرض خاوندان دي او کینه په زړه کښې لري نه پوهیږي چه اسلامي نصوص څنګه پېته کړي او له بلې خوا څخه نه پوهیږي چه څرنګه له هغو نصوصو ځنې یوه برخه



Marfat.com

ومنی او نورئی ایسته وغورځوی او ددې کار لپاره هم نشي میندلای
چه څرنګه په الهی احکامو سره خپلو مادی هیلو او آرزوګانو ته ورسیږي!
او دا وضع په واقع کښې دغې تولنې ته «مسخره» یا «فاجعه» ده
او یوازې پاک خدای پوهیږي چه ددې لوبو او توکو عاقبت به څه شي؟

---

البته باید وویل شي چه اسلام داسې دوستان او مینان لري
چه خاص دهغه په لپاره کښې، نه د نورو په خاطر کوښښ کوي او د
اسلام ته زمینه لاندې د استعمار، خودخواهۍ! او کمونیسم په ضد
باندې پوښانه مبارزه کوي.

دا د اسلام غوښتونکي عقیده لري چه اسلام هغه وخت خپله
ثمره او نتیجه په پوره ډول سره ښکاره شي، چه په پوره ډول سره حکومت
وکړي، دا د اسلام غوښتونکي او هوادا ران هغه هوادا ران دي چه
د صلیبیانو ظاهري دوستي، دهغو کسانو دوستي چه پوره نیمه سوه
کاله د اسلام په ضد باندې جنګیدلي دي دوی نشي غولولی.

دا د اسلام دوستان، نه غواړي چه دهغه له نوم او معنوي
څخه ناوړه او نا مشروع استفاده وکړي، بلکه غواړي چه د اسلام
په نامه باندې هر جانبه اجتماعي او بشپړ عدالت، کوم چه اسلام ئې



Marfat.com

لري اجرا او عملي کړي . دوی نه غواړي چه په دې وسیله د خود کامۍ او استعمار آله وګرځي ـ بلکه غواړي چه په دې وسیله عدالت، عزت، شرافت د خلکو په منځ کښی عام وګرځوي . دوی له اسلام څخه، د لباس او کالیو په شکل د دروغو تبلیغاتو د پاره، استفاده نه کوي، بلکه له هغه د یو قوي او ټینګ ډال او سپر په عنوان، د حق او عدالت، د آزادي او لوړ والي د خپرولو او پراخولو لپاره کار اخلي.

د اسلام دوستان عقیده لري: هغه کسان چه یوازې په ظاهر کښی مسلمان ښکاره یږي او په عمل کښی له اسلام څخه لیرې دي او هغه کسان چه د دین په نامه تجارت او مادي استفادې کوي او هغه کسان چه د دیني اصولو سره د لوبې کولو له لیاره یې څخه مری خوري... تول او تول دا او بود (نړک) په شان دی چه هر کله یوه ځپه راشي ورکیږي او له منځه ځي او دا ځپه به، د یو څو له هغه وخت څخه چه اکثر خلک ګمان کوي، په مستی ځان راورسوي.

خلک هغه لیرې ګڼی مګر مونږ ئې ډیر نژدې ګورو.

(نوټ : دا بحث د فاروق د رژیم له سقوط څخه مخکښی لیکل شوی ؤ او څو میاشتې وروسته فاروق سقوط وکړ...)

«وعد الله الذین امنوا منکم وعملوا الصّلحت لیستخلفنّهم



Marfat.com

فی الارض کما استخلف الّذین من قبلھم ولیمکننّ لھم دینھم الّذی ارتضی لھم ولیبدّ لنّھم مّن بعد خوفھم امناً یعبدوننی لایشرکون بی شیئاً »[1]

پاک خدای ستاسو څخه هغو کسانو ته چه ئې ایمان راوړی او ښه کارونه ئې کړی دی وعده ورکړې ده چه په دې ځمکه کښې هغوی هرومرو خلیفه گان وکرځوی، لکه چه مخکښې کسان ئې هم خلیفه گان کړل. او هرومرو به ټینګ کړی ددوی هغه دین چه دوی لره خوښ کړی دی او البته وروسته له ویرې څخه به ئې ورته امن او اطمینان ورکړی چه ځما عبادت وکړي او هیڅ شی له ما سره شریک ونه کړځوی.

(۱) النور ـ ۵۵

---

(۱) د نور سورة ۵۵ آیت.



Marfat.com

# دجګړې او صلحې په باره کښې
# د اسلام خبره

اسلام په کلي او فطري اصولو سره چه د ژوندانه او صلحې په باره کښې ئې لري، ټول هغه جنګونه چه تر ننه ورځ بشریت د هغه او ړکوي بدکښي. او همدا رنګه د هغو د منځ ته راتللو اسباب او عوامل چه د جنګونو غوښتونکي او او رېلوونکي کسان دي، هم د سختي رټني مورد ګرځوي، د دې لپاره چه دا جنګونه ټول، د خداى د نامه او د الهي کلمې د لوړوالي او د خدائي د لوړو او عالي اساسو او رښتونو په ضد او خلاف باندې جنګونه کښي.

او همدا سبب دی چه اسلام دا خبره منع او حرامه کړې ده: چه مونږ مسلمانان د تېري کوونکو او متجاوزينو سره يو ځای شو او يا په کومه ګناه او تېري کښې شريک شو او مرسته وکړو: «والذين کفروا يقاتلون في سبيل الطاغوت[1]» هغه کسان چه کافران شوي دي تېري او تجاوز په لياره کښې جنګېږي، او هيڅ شک نشته چه دا دی

(1) النساء . ٧٦



Marfat.com

جنگونو د پیل اکېدلو هڅونه او عوامل، هیڅ یو او په هیڅ ځای کښی دخدای د نامه دلوړوالی دپاره او دخدای په لیاره کښی ندی.

هدارنګه اسلام حرام کړېدی چه مونږ دهغوکسانو سره دمرستې لاس ورکړو چه مسلمانانو ته ځور او عذاب ورکوی او هغوی د خپلو ځایونو او کورونو څخه وباسی او لېږی کوی ئی او په دې لیاره کښی یوله بل سره مرسته او معاونت کوی:

«انّما ينهاكم الله عن الّذين قاتلوكم في الدّين واخرجوكم مّن ديٰاركم وظاهروا على اخراجكم ان تولّوهم ومن يتولهم فاولٓئك هم الظّلمون»[1] پاک خدای دهغوکسانو له دوستی څخه، چه ددین په کار کښی ئی له تاسو سره جنګ کړی او تاسو ئی له خپلو کورونو څخه دباندې ایستلی یاستئ او ستاسو دباندې ایستلو او اخراج په کار کښی ئی یوله بل سره معاونت او مرسته کړېده تاسی منع کوی. او هغه څوک چه له هغوی سره دوستی کوی، هغوی ټولپه ظالمان دی.

انګلستان او امریکا دشوروی روسیې په مرستې سره د مسلمانانو په ایستلو او شړلو کښی له فلسطین څخه، (البته چه هره اسلامی خاوره ځمونږ خاوره ده) شرکت وکړ. فرانسه دافریقې په شمال کښی ځمونږ په ضد باندې وجنګېدله او ځمونږ په ځورولو او عذابولو کښی ئی

(۱) الممتحنه ۹.



Marfat.com

کلکه ون وکړه او لا ترا و سه پورې هم خصوصاً په ضد او ځمونږ د دین په خلاف په اتفاق سره کوښښونه کوي.

او له همدې کبله هر ډول معاهده او هر راز مرسته له دغو قومونو او ملتونو سره د اسلام له نظره ناروا او حرامه ده، او البته مسلمانان خلک حق نلري چه په ناروا کار کښي، له حکومت سره مرسته او همکاري وکړي، بلکه بنائي په هر ډول چه ممکن وي، حکومت د هر ناروا کار له کولو څخه منع کړي!

اسلام په مونږ باندې واجب کړېدی چه ظلم او تیري له تبشرنیت ځني لیري کړو او دغه کار بنائي چه لمړي له خپلو هیوادونو څخه شروع کړو او بې شکه چه په ځمکه کښي، له «استعمار» څخه بدتره او سپیت تره ظلم او تیري نشته، او د اسلامي ښارونو د استعمار مفکوره نن ورځ د انګلستان، فرانسې، امریکې، لویدیځ المان او اسرائیلو د ملتونو په ختنه کښي آغښتل شوي ده!...

او له همدغه امله اسلام له مونږ څخه غواړي چه په هره جبهه کښي دهغوي په ضد باندې کوښښونه وکړو او په لمړي وخت کښي په مقاومت ور حبک شو او خپل ځان د داسې جنګ د پاره چمتو وکړو چه د یو دفاعي جنګ په شان ـ د هغوي د تجاوز او تیري مخه ونیولای



Marfat.com

شو : « وقاتلوا في سبيل الله الّذين يقاتلونكم »[1] او جنګ وکړئ
د خدای په لياره کښې له هغو کسانو سره چه جنګ کوی له تاسو سره.

البته کوم شی چه په د ېباره کښې دولتونو او حکومتونو ته متوجه
دی ، د لوا و افرادو ته هم متوجه دی ، يعنې هر مالی شرکت او تجارتی
مؤسسه او هر څوک چه له دغو استعماری دولتونو سره يو د ول مرسته
او معاونت ولری له اسلام څخه لیری دی ، او د خدای ارشاداتو څخه
مخالف عمل کوی او د مسلمانانو تولنې په ضد باندی جګ شویدی
او په واقع کښې د نړۍ ټولو مسلمانانو ته ئې چه په هر ځای کښې وی
ضرر رسولی دی .

او په دی ترتیب سره کوم د له خلک چه په هر کوټ کښې د
استعمارګرو د لښکرو سره بازار نو ته خوراک او وسلې رسوی ، او هغه
کارګر چه په اړ دو ګاه وکښې دهغوی د پاره کار کوی او یا په بندرونو
کښې هغوی ته بار رونه وړی او راوړی ، او هغه د له د دین حرفو ئی کسان
چه د استعماری مؤسسو د نجات مینډلو په لیاره کښې له ماتې او سقوط
څخه ، د دینې نصوصو له ظواهر و څخنې ناوړه استفاده کوی او په دغه
وسیله له استعمارګرو سره مرسته کوی ، ټول د پورتنې حکم لاندی
داخل دی . یعنې له اسلام څخه لیری دی او د خدائی ارشاداتو څخه

(1) البقرة . ١٩٠



Marfat.com

مخالف عمل کوي او د مسلمانانو تولني په ضد جگ شويدي . . .

داسلام جنگ داسي جنگ ندی چه وړانو ونکی او مفسد سرمایه داران، دخپلو جنگی او جهنمي وسلو د خرڅولو لپاره دانسانانو او تمدنونو او بنارونو او دانساني اخلاقو او فضائلو د ړنگولو او له منځه وړلو سره، هغه منځ ته راولی . او همداډول داسي جنگ ندی چه د کارتلونو او محتکرو استونو، خارجي شرکتونو او اتحادیو دخپلو منافعو د ساتني او حمایي د پاره په استعماري شویو هیوادونو کښي، او دخامو موادو او د هغو د طبیعي او بشري منابعو د ړنگولو لپاره، او خپلو مصنوعاتو او تولیداتو ته د بازار د پیداکولو لپاره د هغه چاری اداره کوی !

داسلام جنگ، داسي جنگ ندی چه د هغه هدف او مرام د ملتونو له شاؤ خواځني د پوخ او پولادي دیوال تاوول او پیداکول وی تر څوچه، هغوی د پوهني او معرفت او تمدن څخه لیري پاتي شی او د نیول شویو هیوادونو وگړي راڼدۀ او کاڼه او گونگ پاتي شی او په خواري او سپک والی سره، د تسلیم او ناپوهي په کندۀ کښي، دوژلو میدان ته وزغلول شی !

داسلام جنگ، هغسي جنگ ندی چه د هغه اور، د غرب وحشیانه تمدن د بشریت پر ضد او دخپلي مادي گټي او نژادی



Marfat.com

مربتوب یا دینی تعصب لپاره بل کړي او نکولي وي ـ لکه چه دهغو نمونې دغرب نړۍ په ځپل اوږدا اولړلي او ناولي تاریخ کښې لیدلي او پېژندلي دي .

---

داسلام جنګ داسې جنګ دی چه له ځانه سره ، مساوات عدالت ، عزت ، لوړوالي او درونډوالي دبشري فرد لپاره دځمکې په مخ باندې دتحفې او سوغات په توګه راوړي او هغه دنفس الامري او واقعیت په نړۍ کښې ، دقانون جوړولو او دهغه په اجرا کښې د تور او سپین ، مسلمان او غیر مسلمان ، دټولو لپاره په یو شکل او په یوه اندازه او یو شانته وجود ته راولي که موږ ددې ځکې مودرګې نه چه یوازې اسلام دهغې په سر باندې ولاړ دی هغه فاسد او ناولې محیط ته ، چه غربي تمدن په هغه کښې ډوب دی یو نظر واچوو ، د الهي سیستم چه دبشر د پاره راغلی او دهغه سره یم په منځ کښې چه بشر جوړ کړه یدی ، توپیر او لیرې والي به موږ ته ښکاره او روښانه شي او وبه پوهیږو چه بشریت دڅومره ندانه د پاره دخدائي سیستم په پرېښودلو او ترک کولو کښې څومره تاوان لیدلی دی . پدې حال کښې چه بشر څپل ځان باندې ډېر افتخار کوي او غواړي چه په یوه



Marfat.com

مُضحِکه او خندوونکی خودخواهي کېښی ووایي : چه بشریت دخپل ځان د پاره دېرقلته له هغه شي ځني چه خدای غوښتی دی غواړي او یا دېره کته له هغه شي ځني چه خدای ورته ببنلی ده لري!
اعاذنا الله من هذا المقال او ان یخطر بالبال.

او بې شکه چه بشریت به همدا راز په دي خطر ناکه کنده کېښی وراندي لار شي او همدا رنگه به دخدای ځخه لیري دمادي تمدن په کندې کېښی سنه ننوځي، ترڅو چه اسلام دچارو واګی په لاس کېښی ونیسي او سرګردان او حیران بشریت ته، دعدالت او صلحي خوا ته لیاره ښوونه وکړي.



Marfat.com

# عقیده او جهاد

پاک خدای دې د «اخوان المسلمین» ژوندی ولري! چې مصرنيا ژوندی کړ او د جهاد مفهوم ته ئې چه د خلکو په نظر کښې بو اځي په لاسونو چک چکې کول ؤ، تغیر ورکړ، او د هغه اصلي مفهوم ئې چه کار، او جهد کول او فدا کارې ده بېرته هغه ته ورکړ، او د جها خرنګه والی چه په تبلیغاتو او د خلکو په تحریک پورې منحصر ؤ، په قربان کېدلو او شهادت د خدای په لیاره کښې بدل کړ، کله چه مصر سترګې پرانیستلې، یواځې د «اخوانو» ډله ئې ولیدله چه کاره ته حاضر، جهاد ته چمتو، قربانی ورکولو ته تیاره، د جګړې دې سونه ئې زده کړې او د شهادت د پاره ئې ملا تړلې ده.

اخوالمسلمینو نور خلک پخپل حال پرېښودل ترڅو چه خبرې وکړي او مقالې ولیکی! مګر پخپله دوی په مېړانه د جګړي میدان ته ورتل. هغوی نور کسان پرېښودل چه جلسې جوړې کړي او په مشوره لاس پورې کړي مګر پخپله ئې وسلې



Marfat.com

لاس کښې نیولې او بې له شور ماشور او هايهو څخه د دښمن مقابلې ته لاړل.

نور وغوښتل چه نوی په کار پیل وکړي او لاندې تعلیمات ورکوي مګر «اخوان» یوازې هغه ډله وه چه د مصر بالفعل او تیاره ملي قوه ګڼله کېده... دا سې قوه چه په رښتیا سره ئې کار کړې او ځان ئې د جهاد د پاره چمتو کړې او لمړنۍ ورځې ته ئې د جهاد غږ ته ئې لبیک او مثبت ځواب وویل.

---

له بده مرغه د دغه حقیقت د ښکاره کېدو څخه وروسته یوه ډله ناپوهه خلکو، خپل قلم د اسلام پر ضد په کار واچاوه او یوې ډلې چتې ویونکو هم په چتې ویلو باندې لاس پورې کړ. او د ډېر تعجب وړ دا ده چه هغو «اخوان» د حملې او ملامتی مورد وګرځول چه دوی له قرآن څخه لاپې وهي مګر په جهاد کښې د دښمن په ضد باندې شرکت نه کوی، په دې حال کښې چه دوی یخپله فقط د «اخوانو» سره چه د جهاد وظیفه ئې د جګړې په لمړي صف کښې په غاړه آخیستې وه، د ایله جاړې په توګه ملګرتیا کوله.



Marfat.com

البته دا بې قیمته او تیتهو افراد و، د اسلام روح چه د «اخوانو» لیاره ښوونکی دی مینده نکړاو هېڅکله د دوی تیاره او وران نه هو نه دوی ته اجازه نه ورکوي چه د بشري په دې لوړو مطالبو او عالي هدفونو باندې پوه شي. هغوی نه پوهیږي چه جهاد بې له عقیدې څخه امکان نه لري او یواځې د عقیدې او ایمان خاوندان دي چه کولای شي په جهاد کښې د خپلو ځانو څخه تېر شي او البته چه د دغه کار خارجي واقعیت، دا حقیقت تائید کړ او نن ورځ هم یواځې په اخوانو پورې تړلې افراد دي چه په میدان کښې جنګیږي، ځکه چه یواځې «اخوان» د داسې مهمې او ارزښتناکې عقیدې خاوندان دي چه کولای شي ایمان راوړونکي او د ایمان خاوندان د جهاد میدان ته ولیږي. (۱)

---

(۱) دا مقاله د مسلمانانو د لمړنۍ جنګ په دوره پورې چه په فلسطین کښې د صهیونیسم په ضد باندې ترسره شوې ده. په هغه جنګ کښې: اخوان المسلمین د خپلو ځوانانو لس زره رضاکار ښوونکی مسلمانان مسلح کړې او میدان ته ئې ولیږل . . . د هغوی د جګړو نتیجه او د هغو نښتو نمونه چه په دې لیاره کښې ئې ځان ورکړه د «اخوان المسلمین فی حرب فلسطین» په نامه یوې کتاب کښې چه د «کامل الشریف» تألیف او د بیروت چاپ دی ولولئ (مترجم)



Marfat.com

دوطن دېره مينه اوتوده دوستي اومحبت، کله يو ښه‌رکسا ن

د ځلړي ميدان ته ليږ ي او د اجتماعي عدالت مينه او محبت هم کله کله

خپل خاوندان مبارزې ته وباسي، مگر دا او هغه دواړه يو محدود او

نږدې هدف په نظر کښې لري په دې حال کښې چه د خدائي عقيدې

خاوندان، لکه اخوان ډېرلوړ اوجامع هدفونه لري .

هغوی د ټول بشريت د پاره عزت او احترام غواړي . د هغوی

دوطن دوستې حس له هغو کسانو ځني چه زانونه وطن دوست بولي

په مراتبو ډېر دی ! او څرنگه چه عدالت په هرځای کښې او د ټولو د پاره

د دوی هيله او مطلوب دی، نو له دې کبله د دوی احساسات داجتماعي

عدالت په برخه کښې له بل هر انسان څخه ډېر ځلک او ډېر دقله ور دی .

برسېره په ټولو خبرو باندې، د هغوی تر نظر لاندې هدف،

له دغو ځني له دې کبله ډېر لوړ اوجامع دی، چه هغوی د خدای د نامه

د لوړ والي لپاره په ځمکه کښې کار کوي . هغوی په هر ورځ وکې کار کښې

ئې چه ترسره کوي هم پاک خدای په نظر کښې لري . هغوي د خدای له

د رضا ته دداسې يوشي هيله او اميد لري چه هغه د کوم شي څخه چه د خدا

په لپاره کښې ئې له لاسه ورکوي ډېر لوی او ډېر زيات او ډېر لوړ دی :

ډېر لوی له مال او هستي ځني، ډېر لوی له ځان او ښه‌وندو ځني . . .



Marfat.com

هغوی داسی مر بایلو نکی دی چه هر کله و تل کله چه غواړی ځانونه فدا کوی، ځکه چه هغوی خپل ځانونه په هغه ورځ پلورلی دی چه خدای ورځنی پیرودلی دی :

« اِنَّ اللّٰہَ اشۡتَرٰی مِنَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ اَنۡفُسَہُمۡ وَ اَمۡوَالَہُمۡ بِاَنَّ لَہُمُ الۡجَنَّۃَ ؕ یُقَاتِلُوۡنَ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰہِ فَیَقۡتُلُوۡنَ وَ یُقۡتَلُوۡنَ ۟ وَعۡدًا عَلَیۡہِ حَقًّا فِی التَّوۡرٰىۃِ وَ الۡاِنۡجِیۡلِ وَ الۡقُرۡاٰنِ ؕ وَ مَنۡ اَوۡفٰی بِعَہۡدِہٖ مِنَ اللّٰہِ فَاسۡتَبۡشِرُوۡا بِبَیۡعِکُمُ الَّذِیۡ بَایَعۡتُمۡ بِہٖ ؕ وَ ذٰلِکَ ہُوَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِیۡمُ »

پاک خدای له مؤمنانو څخه د دوی ځانونه او مالونه واخیستل چه بېشکه دوی لره جنت دی، د خدای په لیاره کښې جنګیږی، هم وژنی او هم وژل کیږی، وعده ده د خدای چه په تورات، انجیل او قرآن کښې ده څه (ج) په عهد ه او ذمه ده او څوک دی چه په وفا کونکی له خدای څخه، نو خوشحاله اوسئ په خپله معامله او سودا باندی چه کړی مو ده چه دا لوی بریالیتوب دی.

---

دیوا احمق او کم عقل ناپوهی ! یا د لوبغاړو کتاب یه ویل او کوټ غږ بدل، د خدائ عقیدی د خاوند انو په منځ کښې څه اعتبار او اثر کولی شی ؟

(۱) التوبة ـ ۱۱۲



Marfat.com

ټول د کفر غوښتونکي او خوښوونکي له هغوی سره وجنګېدل.

د استعمار ټول قوتونه د هغوی په ضد په نښته پاڅېدل، د فیو-
ډالیسم ټول قوتونه د هغوی په ضد او ضرر باندې سره متحد
او یو ځای شول، د ظالمې سرمایه دارۍ ټول افراد د هغوی جنګ ته ولاړل،
په کمونیسم پورې تړلي احزابو د هغوی په خلاف مبارزه وکړه او د ورانۍ او فساد
سره ذلالت او دنائت ټول قدرتونه د هغوی د تخریب لپاره توطئې او پلمې
جوړې کړې، مګر په پاکیزې ئې ماتې وکړې او بېرته وګرځېدل، ځکه چې هغوی په ځمکنی او
ظاهري قوي باندې باور او اعتماد درلود، مګر د خدائي عقیدې خاوندان
د لوړې او آسماني قوې څخه مرسته اخلي، هغوی ټول فاني او بې ارزښته
ګڼي څخه دي او دوی په ابدي او سرمدي عالم پورې تړلي دي ...

اوس مسلمان ملتونه ورسته له اوږده خوبه څخه ویښ
شویدي. او که چېرته دا خوب، د مړینې او مرګ خوب وای هېڅ کله
به بل ځل ویښ شوي نه وای ... هغوی له ډېر د روناخوب څخه
جګ شویدي او ژوندانه قانون بل وار هغوی ته اجازه نه ورکوي
چه بیا له سره ویده شي! . هغوی ویښ شویدي د دې لپاره چه
نمو او وده وکړي، ژوندون وکړي او د فساد او بدبختۍ هغو ټولو عامل او
سبب له منځه او له ریښې نه ولې څخه لرې کړي. که موږ نن ګورو چه د اسلامي



Marfat.com

ملتونو په منځ کښې شور ماشور او کړه وړې او ناآرامي وجود لري، د ...

نښه او علامه نه ده، بلکه د نوي ژوندون او لیشیږي ویلښ والي لپاره د تکان خوړلو علامه ده!... د ویښیدلو علامه د لیودرونډ او او وړ د خوب څخه ویښېدو... او البته راتلونکې زمانه د مسلماني ټولني دوره ده او قول د ئل او تبنائي د دغه روښان او ځلاند راتلونکي زیري موږ ته راکوي.

د خبرې لنډیځ دا: چه بې له عقیدې څخه! به هیڅ یو جنګ او جهاد وجود و نلري. بې له عقیدې ځني به ژوندون کوم مفهوم پیدا نکړي. بې له عقیدې ځني، به انسانیت خپل اصلي او حقیقي ماهیت له لاسه ورکړي...

موږ له ډېرو مودو څخه ځکه ښې د دغو مطالبو ښکاره ونه او اظهار کړې او یوه ناپوهه او بې اهمیته ډله په موږ پورې خندلې ده، مګر ننۍ وخ موجوده حقایق او جریانونه څمونږ د وینا د صحت تصدیق کوي. نو که چېرته کوم چپي غږ پد ونکي، چپي او پرته وکړه پړ ی او بې اهمه نښتنه سرې، په خپل قلم سره په چپتیا تولاس پورې کړې، نو دا کار به حقیقت کښې په هره زمانه او هر ځای کښې، د لایعني او سپکو کسانو د باطني غم او خپګان

عل... دي !!

... ري دي او راتلونکي زمانه د اسلام ده....

ذخیره



Marfat.com

Marfat.com

ذخیرہ

Marfat.com